سلسلہ نشریات روزنامہ اصلاح

پتہ مینہ

اثر: "کشککر"

Ketabton.com

۱۳۱۷

مطبعۂ مومی

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

پته مینه

اول توك

یوسړی و چه (محمود) نومیده اوکسب ئی دکانداری و .

د (محمود) دکانداری لخنی به فقط دومره شی هره ورځ په لاس ورتنه ، چه د خپلی دعیالداری به‌ئی په‌هغه باندی دقوت اولایموت وسیلی برابره‌ولی او په مشکل سره به‌ئی خپل رأس المال په هغه سره ساته اودقرضدارانو اودمعامله دارانو خوله به‌ئی بندوله اوله کومه ورځ‌به په دکان کښی نه‌کیناستو اویائی چاله دکانه څه شی نه‌آخسته . نودی خوار به د خپل دصبا اوبیګا خرڅ ته‌حق حیران وه .

دده کورنی عبارت وه له یوی بڼځی . او دوه هلکانو څخه چه په نامه یو په (مجید) اوبل په (حمید) سره یادیدلو .

اګر که ددی کورنی ګذران دخوراك اودپوښاك له لوری چندانی ښه نه و ، مګر سره له دی‌هم هرکله چه دوی دخپلی برستنی په‌اندازه سره پښی غزولی او هر قسم چه کیده خپله ګذاره به‌ئی سره کوله ، نوغیر له دی څخه چه دخپلو اوپردیو په نظرکښی دخوار انو په شانی راتلل دوی پخپل کور کښی سره خوشحال اوآرام اودادفقیری کور به دوی‌ته لکه یو پاد شاهی ښکاریده ، چه دهغوی په سر ددوی پلار (محمود) حکومت کاوه ، او د دوی په‌منځ کښی دهغوی مور (فاطمه) په کار او انتظام سره بخته وه .

مګر ددنیا پښی داسی دی چه‌تل نه دفقیر ، فقیری ؟ اونه دپادشاه ، پادشاهی پاتی کیږی اوهمیشه ددی عالم راحت سره زحمت ، او ګل سره اغزی موجود دی ، نوناڅاپه‌دی فقیری کورنی ته هم یولوی مصیبت وافع‌اودوی ګټیالی (محمود) وروسته‌له لږی رنځوری څخه مړ شو اودوی‌ئی ګردنه‌یوالحی په ویر کښی کینول ، بلکه له خاورواو ایرو سره ئی برابر کړ لو .

ketabton.com - The Digital Library

دده اوی مکتبی زوی (مجید) دخپل دپلار رد مې کیدو په وخت کښې شل کلن و اوبل ورورلی (حمید) د پنځه لسو کلو لخې زیات عمر نه درلود .

دی خواری کورنۍ چه خپل ګټونالی لمړنی سرپرست له لاسه ایستلی و ، پخپل کورکښې غیر له فقر او مسکنت او د قرضدارانو غوښتنې اولږ د دکان له جنس څخه بل شی نه درلودل ، چه له همدې امله سو څخه ګی هم د خپل د مړی ګور او کفن ، او هم د قرضدارانو څخه تسکین ، او هم خپله ګذاره په ډیر نول او زول او مشکل سره کوله .

دوی ګرد په دی باندې پوهیدل ګه بله کومه اساسی چاره او وسیله د خپل دژوندون لپاره روغه نه کړی ، نو هغه وخت به لږی نه وی چه دهغوی دالږ څه جنس چه پاتی دی ، او هره ورځ ګی په نیمائی قیمت باندې له لاسه ووزی ، او په ګیډه باندې خوړل کیږی ، او قرضدارانو باندې ویشل کیږی ، بالکل به خلاص شی ؟ او دوی به په دا ګټ او یا بان کښې پاتی شی .

نو له دی جهته (مجید) ناچاره شو چه له مکتبه ووزی او لخان په کوم یو کار او غریبی کښې واچوی ترڅو چه دهغی له ګټی لخې دخپلې مورا و ورور او د کورسانته وکړی .

مګر سره له دی مجبور تیا هغه زغرد نه شو کولی چه له خپل تعلیم او تربیت څخه (چه اصلی دولت او عزت او پنګه بلله شی) ستر ګی پټی کړی ، او په معمولی کار و باندې (چه نتیجه یې ګی لکه د دوی دپلار دژوندون په شانی وی) خپل لخان مشغول کاندی .

په دی فکر او تذبذب کښې (مجید) خوار څو هفتی نور هم په مکتب کښې پاتی شو ، او زړه ګی و چه هر رنځ او تکلیف باید پخپل لخان واخلی ، مګر د مکتب ګټه له لاسه په وړیا سره ونه باسی ، ترڅو چه د فارغ التحصیلی سند په لاس رانه وړی .

مګر (مجید) خوار پخپل دی عزم او اراده باندې ممکنه نه وه چه پاتی شی .

ketabton.com - The Digital Library

ولی چه د زمانې ګرد کار و نه د انسان د میل او د خواهش څخه چپ پیښیږی او د روزګار تګ همیشه د انسان پخلاف لویږی، اوله همدی جهته دی چه په ګرده دنیا کښ به هیڅوک داسی پیدا نشی چه د فلک د ګردش به پټې نه لری او د دنیا د ګرد و پیښو څنی به ټل خوښ وی. او ښائی چه په داسی پیښو کښ د انسانانو قصور وی چه هغوی د دنیا واقعات په بده لاره وی او ګردی پیښی د خپل خیال څخه چپ تفسیر او تعبیر کوی.

نوچاره په ده باندی منحصره شوه چه (مجید) خپل آخیرینی تصمیم ونیسی، لکه چه د ده کنډه رنډه مور (فاطمه) اووزی تږی ورور (حمید ده) کتنی او پالنی او مرستی ته الم او محتاج وو او دوی به ده ته ښانه کوله چه د کور او دور و را او د مور غم و خوری، او که نه د ری به له لوږی او تندی څنی له لاسه ووزی.

ده غوښته چه مدرسی ته لاړشی، مګر د انسانیت او اسلامیت وظیفی له ده څخه نوره شی هم غوښتل او هغه دا وچه د مورنی حق او د کورنی ضرورياتو ته هم پام ولری.

(مجید) مجبور و په هغه چه زړه ئی غواړی پښه کیږدی، اوله تعلیم او تربیی څنی لاس واخلی او د مکتب د تګ او راتګ څخه پښه ونیسی، لکه چه همداسی ئی هم وکړاو.

یوه ورځ صبائی (ګهیځ) مکتب ته تللی، پخوا لدی څخه چه د مکتب زنګ وواهه شی، د خپل ډکلاس ګرد و دوستانو او آشنایانو سره ئی ولیدل، د ګرد و سره ئی خدای پامانی او وداع وکړه او خپل کتابونه او قلمونه او مشوانی او نور شیان ئی د هغوی په منځ کښ دیادګار په ډول و و یشل

ketabton.com - The Digital Library

اوپه داسی یوډول چه زړه ئی هم نکیده ، په ژړا سره له مکتبه بهر شه .

(مجید) خوار هیڅ نه پوهیده چه اوس چیرته لاړ شی؟ او په کوم یو کار باندی پیل وکړی؟ .

گرده ورځ لکه لیونی دی خوا هغه خوا وگرځیده، او دشپی په نه تیاره کښ په نا امیدی او حسرت سره چه ستونی ئی له ژړا خخه ډك و ، خپل کوټه وزی تږی ستړی ستومانه راغی او هغسی خپلی مور او ورور غوندی پخپله بستره باندی نهار پریوت .

گویا لمړی ځلی دی چه (مجید) دژوندون تریخ غوړپ وخکلو ، او لږځه وپوهید او چه په هوسائی سره شپی او ورځی تیرول خومره گران دی . دی په دی اندازه سره غمجن او خفه و ، چه د خپل ځان دوژلو په فکر کښ ولوید ، مگر زړ ننگ او غیرت ورته ودریدل او له خپل ځان سره ئی وویل چه د خپل ځان په وژلو اگر که په ظاهری طور زه آرامیزم مگر په واقع کښ د خدای په نزد په آخرت کښ مسئول اوگرمیزم ، او هم مور او وروزمی خوارا وزار پاتی کیږی - نو بهتره داده چه لکه نورو ځلمیانو غوندی دمیړانی ملا کلکه وترم ، او د خپل د ښه ژوندون په ذریعه سره ، د خپلی مور او ورور ژوندون هم ښائسته او په هوسائی کړم .

په مجرد دتیریدلو ددی خیال، دده په زړه کښ سمدلا سه هغه خفګان او پریشانی په خوشحالی او ډاډینه باندی بدله شوله او په دی خبره باندی ئی عزم او اراده تینګه شوه چه ژوندون له ښائست او هر رازی ښه والی خخه ډك دی په دی شرط سره چه انسان زیار وکاږی او په ځان باندی زحمت ونیسی نر څو چه د دنیا آرامی او خوشحالی دده په برخه شی او په ژوندون کښ هر له رازی نعمت او هوسائی ځنی فائده من وگرزی .

ketabton.com - The Digital Library

تعجب مه کړی چه له داسی یولوی بد کاره یعنی دخپل د ځان له ورلو لحنی په عین مایوسی اونا امیدی کښ خرنګه (مجید) مخ و گرزاوه ، اوهغه ژوندون ته چه څو د فیقی وړاندی له دی څخه ئی ،هغه په بده ستر گه کتلو ، او له هغه څخه بیزاره شوی و ، اوس په شپه ستر گه ورته گوری ، او بیا ئی وزته امید واری پیدا شوی ده ، او پخپل ځان باندی

هم ز یات اعتماد او باډینه لری، او پو هیږی چه په دنیا کښ هیڅ داسی یو مشکل او سختی نشته چه دانسانی په عزم او اراده سره لری نشی مگر په دی شرط سره چه انسان در لود نکی د تینګی ارادی او کلك عزم وی .

ولی چه دا گردشیان ئی په مکتب کښ څولحلی ،لوستلی او له خپلو استاذانو لحنی ئی په وار وار ، اوریدلی و .

څو ورځی پله پسی تیری شولی مگر (مجید)ته هیڅ یوکار او غریبی چه په هغه باندی مشغولیده ، او له هغه څخه دخپلی دکورنی دفوت لایموت وسیله پیدا کاندی، پیدانشوه ، او په لاس ئی ورنه غله ، ، مگر سره له هغه (مجید) تل دکار په پلټنه کښ بخت و او شپه او ورځ ئی فکر اوخیال کښ همدا خبره پر ته و ه چه څنګه ئی په هره

وسیله سره چه وی باید کار وکړم،اوله بیکاری څخه چه دگردو اخلاقی معائبو مورده ځان وژغورم .

دیوی میاشتی تگ اوراتگ اولټولحنی وروسته، پهیوه تجارتی مؤسسه کښ یوه معمولی تنخواه (مجید) ځانته پیدا کړه ، اگرگه داتنخواه دیره لږه وه، مگر له هیڅه ښه وه ، اوده دکورنی

ketabton.com - The Digital Library

سپوره ډوډۍ له‌دې څخه بودیده ، اودهغې‌په واسطه سره‌ددوی هم‌نلاکت اوبدبختی چه‌له یوې میاشتې یاځلوینټوشپو رائیسی په دوی باندې راغلی‌وه ، سپکیده .

اوس چه (مجید) ته‌کارپیدا شواووئی‌لیده چه‌دده دپلار د مرګیدو له وروسته ښاددوی په کورکښ اول ځلی لوګی‌پورته شو،اودتودې ډوډۍ خوندئی په مزو مزو سره وخکلو ، نوسمدلاسه یوبل‌شوق ئی په زړه کښ ولوید ، اوهغه داو ، چه اګرکه دورځی له ځی نوکریم ، اودخپل دبادار دکارو په سر رسولو باندې مصروف یم ، مګر ایده دی چه دشپی له ځی خپل‌هغه درسونه اوسبقونه (چه‌په‌دی څو کلوکښ‌می‌په‌مکتب‌کښ لوستلی‌دی ؛ اواوس له مجبورتیا بیرته پاتی دی) بیاشروع کړم ، ترڅو زما داڅوکلنی زحمتونه اوخواری چه په مکتب کښ می‌ایستلی ، اوزما دمرحوم اوغریب پلارپیسی‌په هغه باندې خرڅی شوی دی ، ابته اوخرابی نشی ، اوپه پای کښ زه‌هم وکولای شم چه دهغې له فائدې ځنی له نن څخه زیاتی ګټې‌ځان ته‌په لاس راوړم .

اګرکه داکارهم سخت کارو ، اودهرچا دلاسه نه‌وه پوره ، چه دورځی او دشپی له ځی‌پورنګه‌مصروف وی ، اویوه ګړی‌هم‌هوسائی ونه‌لری، مګر (مجید) له‌هغوځلمیانو څخه نه وچه هغوی له‌کاره‌زړزړ ستړی‌کیږی،اوپه‌لږڅه کارکولوسره‌فی‌الحاله‌په‌چینوشی‌اووائی‌چه‌ستړی ستومانه شوی یم اوضروردی چه اوس خولږ څه تفریح او تنفس وکړم ترڅو زمادلاسه تللی قواوی بیرته په‌ځای راشی .

په‌پای کښ (مجید) ددې ضرب المثل په فحوا چه « لټوونکی ، موندونکی دی » د خپل په‌دې مقصد باندې هم ورسیده اوپه یوه لیلیه دحقوقو مدرسه کښ،وروسته له ورځو لو دامتحان ځنی قبول شو، اوپه شپږ میاشتنی امتحان کښ کامیاب ګرزیدلی عالی الاعلی درجه‌ئی وګټله او دده نوم نه یوالحی دوزارت معارف په‌خصوصه مجله کښ بلکه دښارپه ګردور سمی اونیم رسمی اوملی اخبارو کښ،سره‌دعکسه دده ، په‌پندو لیکو سره‌خپور ، اوپه ګرد ومهمو

ketabton.com - The Digital Library

ځایو کښې مشهور اووپژاندې شو،او ددې شهرت په‌اثرکښې ده ته دیوې لوړې حکومتي اداري نه‌خوا بلنه وشوه،چه‌دې هلته کار وکړي .

نو ده هم له خپل بادارسره خداي پامانې کړې ، له‌هغې تجارتي مؤسسې څخه وتلې‌په هغې رسمي اداري کښې ننووت ، اوهلته ئې‌هم خپل‌مفوضه کارونه‌په‌داسې امانت داري او فعا لیت سره تل انجامول ، چه دمربوطه اداري ګردوآمرینواومامورینو به د (مجید) دکار رو اود اخلاقو ستائل او تمجید کاوه . اودې به په‌دې صفتو سره نه غړه کېدلو ، بلکه دې ستائنې به‌دده په زحمت کشي او زیار ویستلو باندې ډېر اثر اچاوه اوده به لازیات کار کاوه اوخپل اخلاق او عادات به ئې هم له‌پخوانه لاډېر ښه ښکاره ول . او د شپې له ځې به تل همغه د حقوقو لیلیه مدرسې ته تللو ، او هلته په ډېره زیاته اندازه سره د خپلو استاذانو د مینې وړ ګرزیدلې، شاګردانو به هم ده سره ډېر محبت کاوه،او ده هم څرنګه چه پخپلو سبقوکښې زیار اوزحمت ویستلو ، همغسې‌به په امتحانوکښې هم تل‌اول‌نمبر ووت ، تر دې چه په‌خپل زړه پورې ښه شهادتنامه‌ئې لاسته حاصله کړله ، او ددې په اثر اود خپلې د ښې سابقې په وجه سره دده معاش‌اورتبه هم‌اوچته شوه ، اوپه‌دې اصول سره دده ژوند ون ورځ په ورځ ښه‌کیده ، اوده په سیوري‌کښې ، مور او ورورئې‌هم په‌هوسائې‌شول ، اود دوې کور د سعادت اود نیکبختۍ مینه وګرزیده ، او په بله ژبه هغه خوار او ګمبخت (مجید) د خپل د زیار او زحمت ویستلو په اثر سعادتمن‌اونیکبخت شو ، اوپه‌خپل‌مقصد باندې همغسې ئې چه غوښته ، ورسیده .

وروسته له دې څخه هغه‌کچنې ګورنې د خپل د ژوندون شپې او ورځې په ډېره آرامۍ اوهوسائې سره تیره ولې او (مجید) د خپلې مور ډېر عزت اوخدمت کاوه او دومره ئې

ketabton.com - The Digital Library

په زړه سرګه سره ورته کښل ، چه تقریبا ددی رضامندی او خوشحالۍ ګټلی ورو سته له نمانځه او روسی خخه خپل ځان باندی لکه یو عبادت ګرزولی و ، اوهم دار نګی به ګی د خپل د و رور (حمید) زړه هم تل بنه ساتلو ، او د ده په روزنه او تربیت کښ به ګی هم ډیر زیات زیار و ویستلو اوسپه او ورځ به په همدی فکر کښ وچه دده په زړه پوری د ده وزور (حمید) پخپلو سبقو کښ مشغول وی ترخو چه په امتحانو کښ کامیاب او په نتیجه کښ ګی د خپل د مکتب دوره پای ته رسولی د شهادتنامی په اخیستلو باندی بریالی شی .

دوهم توك

خو کاله همداسی په خوښی او خوشحالی سره په دی کچنی مسعودی کورنی باندی تیری شوی او (مجید) خرنګه چه دزیاتی کتنی خاوند و ، او یو څه مبلغ پیسی ګی په بانک کښ هم درلودلی نو موز ګی دده دواړه په فکر کښ ولویده ، او په دی موضوع کښ ګی خپل زوی (مجید) سره مشوره وکړله . مګر (مجید) له دی خبری څخه سر وغړولو او وئی ویل چه زه اوس د خپل دواړه دپاره تیار نه یم .

هومره چه دده موز په ده باندی په دی موضوع کښ زور اچاوه ، او خولځلی او په خورلو او خوږلسو کښ ګی په ده باندی دواړه په نسبت اصرار کاوه ، غیر له همغه لومبنی ځواب څخه بل ځواب به ګی له ده لخنی نه آوریده ، تردی چه وروسته له ډیر ګفتګوی او خبرو څخه (مجید) د خپل دزړه خبره خپلی مورته بښکاره کړه ، او وئی ویل چه زه غواړم ترخو چه د (حمید) دمکتب دوری پای ته نه وی رسیدلی ، زه واده نه کوم او وروسته له هغه به خپل ځان او خپل ورورته یو ځای واده وکړم ، ددی خبری په مقابل کښ دده موز ناچاره چوپه شوه او زیات له دینه ګی په دی موضوع کښ خه ونه ویل .

ketabton.com - The Digital Library

(حمید) به په مکتب کښ په ډیر شوق اوذوق سره خپل سبقونه ویل او ضبطول ګی اوخپله (متوسطه) دوره ګی په ډیر موفقیت او کامیابی سره پای ته ورسوله اوورروسته له هغه د (طب) په شعبه کښ داخل شو . اودخپل دتحصیلاتو په ټولو دورو کښ په نورو طالبانو په هوښیاری،اوپوهنی سره مشهوره و، او په ګردوشپږ میاشتنی اوکلنی امتحانوکښ به تل اول نمبر خوت. اوله شلوځلوخخه ګی زیات ، دخپل دمکتب دمدیر له خوا ، دافتخار او دلیاقت پا نه آخستی وه .

(مجید) به هم دده په باره کښ له هیڅ شی څخه لږوالی اوسپمول نه کولو او د (حمید) ګرد تعلیمی ضروریات به ګی (اګرکه ډیری پیسی به هم ورباندی لګیدلی) سره برابر ه و لی اوتل به په دی خیال کښ و ، چه خپل د ی کچنی ورورته دژوندون لارورونئی ، او د ده حیات دبدبختی له تیاری څخه ، دسعادت اونیکبختی زنانه ورورباسی . اوهروخت چه داخبر ه دده په زړه کښ تیریده ، چه دی دخپل کچنی ورور په نسبت ، د خپل د و رورولی لازمی وظیفی په ښه شانی سره انجاموی ، د خوشحالی اوخوشبختی ځلا نده به ګی په زړه کښ وبریښیده ، او خپل ځان به ګی دجهان له سعادتمند انو څخه شمیره .

هو ! هغه څرګ چه خپله انسانی او وجدانی وظیفه پای ته رسو ی څه عوض اوبدله به لدی څخه زیات مومی چه دخپل دهغی وظیفی پیژندلو په واسطه ، دنیوی اواخروی سعاداتو ته رسیږی ، اودخالق او دمخلوق رضامندی دهغی په واسطه سره لاس ته راوړی .

(حمید) هم هرکله چه دخپل دلوی ورور دا مهربانی ، او دا روزنه ، او دا شفقت اودالورینه لیده ، یوغیبی قوت اوقدرت به ګی په زړه کښ پیدا کیده ، اوروح به ګی خوشحالید ، اوپه دی واسطه سره به ګی په ګردوسختیو اومشکلاتو باندی بری مونده کاوه او ټول به ګی خپلو پښو لاندی کړی ، دخپل دموفقیت په لوری تلو .

(مجید) هم له دی خپل ژوندانه څخه ډیرخوشحال و، ولی چه درلودونکی دیوی مهربانی مور لکه (فاطمه) اویو وظیفه شناس تابعداره خوش اخلاقه ورور لکه (حمید) و ، اودی هم له دی څخه څه زیات شی ته چندانی اړنه و .

ketabton.com - The Digital Library

ولی چه سعادت او خوشبختی دومره گرانه او سخته هم نه ده لکه چه ځینی کسان ئی تصور کوی بلکه هغه شیان چه مونږ د سعادت په لوری سموی زیاتدی . بلی ! سعادتمن کیدل آسانه دی مگر تل سعادتمن پاتی کیدل سخت بلکه شاق دی .

هو! (مجید-حمید) اوددوی مور، دری واړه سره او س خوش نصیب او سعادتمن دی که ددوی دا سعادتمندی اوخوش نصیبی ترډیره ورځو پوری پاتی شی .

ناڅاپه ددوی مور رنځوره شوه اوپه بستره کښی پریوته .

داوه ددوی دبدبختی لړی مزل .

ددی رنځوری مور مرض ئی ډیر وځنډیدلو ، اودوی ، ددی په درد او دونهاندی ستړی ستومانه شول اودډاکټرانو به ئی ډیر خوش آمدو نه کول ، اوډیری پیسی به ئی پنډلی ، دشی اودورځی به لالهانده او ګړهانده وو .

(مجید) به دشپی له لوری تر ګډیځه دخپلی دمور دچپرکټ په خوا کښی ناست و. اودورځی له نخی به خپل کار ته تللو اودمور خدمت به ئی (حمید) ته پریښوده ، (حمید) به هم دمکتب له تګه پاتی او ترشپی پوری دخپل دمور په خدمت کښی مصروف و .

(مجید) به دغرمی له رخصتی ځنی هم استفاده کوله اوپه یو کرائی موټر کښی به ئی له ډاکټراو دواسره په ولاړوپښو خپل ځان ترخپلی مور پوری رسا وه .

او وروسته ددی له کتلو او پوښتنی او دوا ورکولو ، اود (حمید) دلازمه هدایاتو ور کولوځنی بیرته به ډاکټر سره په موټرکښی خپل کار ته ورته ، اوحال داوه چه زړه به ئی بالکل په خپلی مور پسی ، هم ډیر پخسیده ، اود مازدیګر له خوابه هم وختی بیا په موټرکښی د خپلی د مور خدمت لپاره له لازمه دواوسره راتلو .

ketabton.com - The Digital Library

نوهر کله چه پښتانه وائی چه « نه کوی حبیب، څه به وکړی خوار طبیب » د د ا کسرانو د دواوو او دا د (مجید) الوند بلوند او الول،اود (حمید) زیار،او زحمت هیڅ یوه فائده هغی رنځوری ته ونه رسوله،او ددی متل په اساس چه« د گورشپه په کورکښ نه کیږی » و روسته د یوکال رنځوری اومعالجی څخه کمښته (فاطمه) مړه شوه اوخپل دواړه ځامن ئی په زړا او انګولا کښ کینول، ولی چه دوی دواړه وپوهیدلو، چه د دوی د نیکبختی پنګه د دوی له لاسه وتله ، او پس لدینه دوی در په در اوخاوری په سرکیږی .

هو!مور داولاد په نسبت د رحمت فرشته او درأفت مجسمه ده او پښتانه‌وائی (هرهغه اولاد چه مورلری نونورځه غواړی اوهغه کمکی چه مورنه لری نوځه لری ؟)

وروسته لدی چه دواړه و رونه د خپلی مور د تکفین او تجهیز او تدفین څخه فارغ شول‌او خپل‌کورته بیرته وګرځیدل، کور د دوی په نظرکښ لکه گوردا سی‌ښکاریده،او پس لدینه چه د دوی مهربانه مور له دی کوره د مرګ په لاره لاړه ، په دی کور کښ ناسته او ولاړه دوی ته چندانی خوند نه ورکاوه .

(مجید) به د یر لږ کورته راتلو او هغه هم فقط د خوب په وخت کښ .

او (حمید) به هم چې له پخوا څخه چه دمکتب درخصتی سره جق په کور کښ حاضر وه اوس پس له ماښا مه کورته راځی او دی هم په دی گونبی کور کښ یوائی او یکسه ناست او دیر به خپه و ، او ددی په ځای چه (لکه پخوا) د خپلو سبقو په ضبطولو باندی مشغول شی ، اوس چه په دی کور کښ راشی هلك پلك پاتی په یوی گونبی کښ چې ا و خپه کینی او په راز راز فکرو او چرتو کښ (چه ټول به له اوهامو او خرافاتو لحنی ډ ك و) لویږی .

ketabton.com - The Digital Library

ربښتیا دادی که (مجید) ځان په رسمی کار و باندی مشغول نکړی، او (حمید) دورځی له ځی مکتب ته لاړ نشی ، نو دی خبری څخه به ویره وه چه چیرته لمونی نشی ولی چه چې خیالات ار بیکاره اوهامو ددوی د واړو په ماغزو کښ ځای نیولی و .

د (مجید) په نسبت (حمید) ته به زیاتی اندیښنی او چتی خبری په زړه کښ لویدی او د شپی له ځی کله کله ځینی جنون آمیزه حرکات هم ځنی امدل کیدل نو هر کله چه دی به په کور کښ یوالځی ملاست و، څوك به دده په دی او ضاعو او حرکاتو باندی نه پوهیدو ، اونه خبر یدو ، او له دی جهته په دی دواړو ، ورونو باندی به ورځی په ډیر ځند یدلو سره تیریدلی .

د ریم توك

(مجید) له یوالځی تر ب او تنهائی څخه ډیر په تنګ شو ، او نژدی وچه لیونی شی ،نو دځینی ملګریو او دوستانو په مشوره، او د خپلی کور نی د ضرورياتو په تقاضا سره مجبور شو، چه دواده کولو په فکر کښ ولویږی .

ځکه چه په حقیقت سره انسانان گویا داسی خلق شویدی،چه په گردوشیانو کښ دیوا وبل مرستی ته اړه او احتیاج لری ، اوبی لدی امر تو ب او احتیاج څخه یوالځی ژوندون نشی کولای، اوله همدی سببه وچه« آدم» علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام ور وسته له دی چه« دالهی » (ج) په خلافت سره ګی په ځکه کښ افتخار بیا موندلو ،اوپخپل دار الخلافت کښ کینا ستلو پس له هغه ځنی چه حضرت « جبرئیل » علیه السلام به دده له حضوره رخصتیده دی به له یوالځی تو ب او تنهائی ځنی ډیر متأثر کیده ، او د خدای تعالی له مرحمته دده دمشغولتیا او انسیت له خاطره بی بی« حوا »علیها السلام خلق شوه .

نو له دی جهته (مجید) هم لکه نورو ځلمیانو غوندی دی روحی احتیاجه ځنی متحسس شو ، او دیوی بنځی انتخاب پسی ولویده .

ketabton.com - The Digital Library

مگر دا کار ده ته خوراګران و ، ولی چه مورلی مړه شوی وه، او بله کومه نړۍ دی خپله او خپلوانه ګی هم نه در لودله، چه په دی لوی کار کښ (چه پښتانه ورته « دعمر سوهان » وائی) ده سره مرسته وکوی .

(مجید) ډیر وخت ددی کار په فکر کښ و، مګر هیڅ یوه وسیله او ذریعه به ورته نه پیدا کیده ، تر دی چه په خپلو همسایګانو کښ ګی یوی بوډی ښځی سره ملاقات وکړلو، او هغه ګی په دی ضرورت باندی وپوهوله .

ګویا چه زړی ښځی فقط دهمدی ښوکار و دپه سر رسولو لپاره ژوندی دی لکه چه د (مجید) و ارهم په خطا لاړنه شو . ځکه چه هغه سپین سری همسایه دده دوا ده دیا ره متوجه شوله .

داموضوع چه اول پلا دهغی سپین سری په نظر کښ ساده، اومعمولی ښکاریده ، وروسته ډیره سخته شوه ولی چه (مجید) به داسی نجلی پسی ګرزیده چه د ده په زړه کښ وه، اودی بډی به چه د هری یوی نجلی صفت ورته کاوه ، اوهویت به ګی ده ته وویل ، ده به د هغی له کتلو، اوګړلو څخه په راز راز پلمو او بهانو سره سر غړاوه .

هو ! دنکاح په مقدس امر کښ ډیر احتیاط ، اوډیر وړاندی، اوورروسته کتل په کار دی ، اوډیر زیات لازم دی چه تل ناوی د زوم په زړه پوری وی، اوپه داسی مواردو کښ دنورو کسانو مداخله نه یواځی بیځایه بلکه مضره اوبالکل چټی ده .

لکه چه وویل شول له یوی خوا (مجید) دنجلی په خو ښو لو کښ ډیر متکل پسند اوزرزری واقع شوی و، اوله بل لوری به دنجنکیو پلرو او میندو هم له دی ځلمی څخه خیل ځانونه ژغورلو ولی چه په همغه اوله ورځ کښ چه (مجید) هغی سپین سری ښځی سره په دی موضوع کښ خبری کولی نورو پرد یو ښځو ترشا دده ګردی خبری (چه دخپلی مفروضی

ketabton.com - The Digital Library

ښځی داوصافو په نسبت سړه ګی یانولی) واوریدلی اوهغه ګی لکه چه دښځو عادت دی زرترزره په کلی،او کور کښی خیری کړلی په سر ددی دامتواتر انکار، اومخ ګرزول د(مجید) دهرازی ښی او ښائسته نجنی دقبلولو څخه داخبر لا تینګه کړه چه (مجید) لوبی کوی اوپه خلقو مسخری جوړوی ، اوکه نه داسی ښځه چه یدی صفت سړه ګی ستائی چیرته پیدا کیږی لکه چه ښځو به پخلو منځو کښی ویل ، اودا خبری ګی خوله په خوله کوخه په کوخه بلکه تردیره لری ځایو پوری رسولی وی ، (مجید) هغه سپین سری ښځی ته ویلی و :

زه داسی ښځه امتوم چه ماسره په خوشحالی، اوخپګان کښی تل ملګری وی،په ژوندون کښی همیشه مرستی را سره کوی صبا اوبیګا زما پخدمت کښی لګیاوی، زمازړه له هره حیثه ښه ساتی زماپه کور اوورورباندی فهم لرنه لری زما دغمو او اند یښنو پهلږو لوکښی تل دیر زیات زیار باسی . اودخپلی مهر بانی او عواطفو په غیږ کښی می تل روزوی ...

له دی راز خبرو څخه به ګی زیات ویل اودیری نوری خبری ګی هم لکه چه دښځو عادت دی په دی خبرو پسی له خپلو ځانو څخه جوړی کړی وی چه (مجید) له هغو ځنی هیڅ خبر هم نه و پهر تقدیر سړه ګویا چه (مجید) دخپلی ښځی په غوږه کولواوانتخابولوکښی دیو ځصوص ذوق لرونکی دی چه دنورو خلقو له فکرو ځنی جلادی .

دا مطلب زرترزره ښکاره شو ولی چه هغی سپین سری ده ته خبر ورکړلو چه یوه ښه جلی می درته پیدا کړی ده ، او وروسته له هغه ګی ګرده قصه ده ته په دیر شور اوزور سره وویله

ketabton.com - The Digital Library

« داسی نجلی ده چه مخ ئی لکه دخور لسمی سپوزمی اودوارده غتی غتی ستر گی ئی توری ناغه داری،اوتوری نری کیزی ورځی ئی لیندی، اوتوربانه ئی لکه تیره غیشی او سم قد ئی لکه سرو ، اوسپین غاښونه ئی دئور د گلی په شانی،او دوارده شو نده ئی سر ی لکه عناب ،او ... اویلار ئی هم شته من دی .

(مجید) په تلوار سره ددی سپین سری ښځی له خولی لحینی خبر ی اخیستی وئی ویل:

« مورکی ! داسی نجلی زمانه په کار نه ده »

سپین سری ښځه له خوراتعجبه په چیغو گډه شوه ، ولی چه داسی انتظارئی نه درلودلو چه له (مجید) څخی به ددا سی پیمخی شته منی نجلی په مقابل کښی دا سی ځواب وا ور ی او اوس ئی چه داخبره دده له خولی ارویدلی هم ده،بیائی هم یقین ور با ندی نه رائحی چه یو داسی حاجتمن مجرد ښکلی ځلمی ، ددا سی یوی ښکلی گلا لی نجلی په مقا بل کښی داسی یوه خبره وکړی ...

لږ څه وخت تیر نه و چه د (مجید) اصرار اووینا و دا ښځه په اصلی مطلب باندی وپوهو له اوور وسته له هغه څخه هغه سپین سری ښځه دهمغسی نجلی په لټولو کښی ولویده چه (مجید) غوښته.

اوس نو ښائی چه مونږ و گورو چه د (مجید) ددی مخ آ ړولو سبب څه شی و؟!...

(مجید) به تل فکر کاوه که له یوی شته منی کورنی څخه دی ښځه وکړی نو نه یوائحی ددې په واده کښی د یری پیسی خرڅیزی بلکه تل به په هغه با ندی د ده د یر لگتو نه کیزی او ویلی به ئی چه په پای کښی به له یوه پلوه زه و نشم کولای چه خپل هغه پورونه چه په ما باندی زما خواخوزی مور درنځو ری،او د گور،او کفن په وجه سره پرانه دی ادا کړم، اوله بل لوری زماد ورو ر (مجید) په تعلیما تو کښی د پیسی دنشتوالی په سبب سره د یل اومعطلی پښیزی، اودهغه تعلیمات ناتمامه پاتی کیزی چه دا دوارده کارونه ښه نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

هوا (مجید) به غوښته چه په ده باندی تر ډیره وخته پوری د خلقو پوروی، ولی چه د اخبره د ده دی اعتباری اوسپکوالی سبب کیده، او هم ئی په دی خبره باندی لوړینه نه وه چه ورورئی د تحصیل له سعادت لخنی وروسته لدی څخه چه څو کلونه ئی زیار اوزحمت په لحان باندی اخیستی دی بی نصیبه پاتی شی، اوپدی وخت کښ، د خپل لحان، او د خپل و ر ور د خوراك، اوپوښاك او د خپل کور د اعتظام لپاره مجبوروه چه خپل کور هم ودان کړی . . . نوځکه ده د ګردوامورو غیر لدی څخه په بل صورت سره توانق نه شوی پیدا کولی چه دی په یوه ځای کښ ورځوزی او له هغو خلقو وه ښائسته، اوپیمخی، او تعلیمیافته نجلی لحان ته واده کړی .

ر ته ئی کار سم شو . او هغی بو ډی د ه ته د د ه په ز ړ ه پوری یو ه نجلی پیدا ک ړه او دوه در ی هفتی نه وی تیری شوی چه ګر د و ګار و د د ه په ړه پو ری صورت ونیو لو او په د ی کچنی کورنی باندی چه عبارت و له دوه یتیمانو ورونو لخنی یوه بلهښائسته او ګلالی او تعلیمیافته نجلی هم ریښه سوله چه دهغی سارې په هغی سیمه کښ لږ پیدا کیدلو . . . او دا کور چه تر اوسه پوری دیوه قبرستان په منزله تیاره ښکاریده، اوس د ګلستان په شان ښائسته شوی او یو نوی رنګ او رونق ئی پیدا کړی دی . . .

یعنی (مجید) واده وکولو او متاهل شو . او خپله ښځه ئی کورته راوستله .

او د دوی په ژوندون کښ نوی یوه دوره شروع شوله . له سرګردانی او پریشانی لخنی ګرد خلاص شول دشپی له څخی به (چې له پخوا څخه چه ډیر ګله به هیڅ نه راتلو . او ګه راتلو به هم فقط د خوب په وخت کښ به و) رراوډیر په وختی کو رته راتلو . او درخصتی او د تعطیل په ورځو کښ به هم له صباڅنی تر بیګاپوری په کور کښ ناست و . که رښتیا وویل شی ګویا چه اوس (مجید) د ژوندانه په خوند باندی وپوهیدلو چه له خپلی پیمخی ښځی سره ئی چه نوم ئی (حبیبه) و ، ناسته او ولاړه اوخبری او اتری کولی .

ketabton.com - The Digital Library

۱۷

خلورم توك

اگر که (حمید) دخپل دتحصیل اوتعلیم په کار وکښ بخت او مضروف و، مگر د (حبیبی) راتگ دهغه په ژوندون کښ هم بی اثره نه و.

لکه چه بنځه د خاوند تعالی دیو لوی نعمت او رحمت په منزله ده چه هرچیری پښه کیږدی اولاس ئی ورسیږی هلته سعادت اوآرامی او هوسائی پیدا اودژوندون خوند څرګندیږی! ...

(حمید) دخپلی موردمړه کیدوځخه رانیسی دآرامی اودهوسائی مخ نه وه لیدلی. ولی همداچه (حبیبه) ددوی په کور کښ ننوته دده هم له بدبختی اورنځ او تکلیف څخی نجات پیدا موندله.

که رښتیا وویل شی ګویاچه دادواړه ورونه سره دپیمخی (حبیبه) په خپل خونده ور ژوندون نوی ورګډ شوی دی. اوخپله هغه پخوانی بدبختی اوسرګردانی ګی بالکل له خاطره ښه کړیده...

مګر دی سره به خوك څه وکړی شی چه روزګارهیڅ یوشی پخپل حال باندی په قرار نه پریږدی، اوخوشبختی او بدبختی دواړه لکه ژمی اووری او پسرلی اوخزان غوندی پله پسی زمونږ په ژوندون کښ څرګندیږی اوهرشی اوهرڅیز زر ترزره دتغیرارتبدیل په معرض کښ واقع کیږی..

ketabton.com - The Digital Library

(مجید - حمید - حبیبه) دری واړه یوه کچنی کورنی سره ګرزیدلی دی . اودوی ټول په ډیره خوشحالی اوهوسائی سره شپی اوورځی تیره وی .

دورځی له ځی (مجید) خپلی نوکری ته ځی . او (حمید) خپل کتابونه تر تخرګ لاندی نیولی مکتب ته درومی . او (حبیبه) ددوی دوتلوځخه وروسته په جاروکولو او لوښیو په و ینځلو او په ګندلو او پخلی اونورد کورنی کارو باندی لګیا کیږی . .

د یګا له اوری (مجید اوحمید) وختی کورته بیرته ورګرځی اوپه مجرد د ننو تلو په کور کښ د هغی دانتظام او ښائست ځنی خو شحالیږی او بیا دری واړه سره یوځای دهغه چای په خکلو باندی (چه عین ددوی درانګ په وخت کښ ئی اوبه تیاری خوښیدلی وی اوسمدلاسه دمیزی) مشنولیږی اوروسته له اداء کولو دمانځه دری واړه سره یوځای په یوه میز باندی ډوډی په خوړلو باندی پیل کوی. اوبوله بله سره په عین خوراک کښ خوږی خوږی خبری اواتری هم کوی . وروسته له ډوډی خوړلو او چای خکلو څخه دری واړه دماسختن نموځ اداء کوی او وروسته له هغه به (حمید) له خپل ورور او وریندارې سره خدای پامانی کړی خپلی بلی خونی ته تلواوهلته به ئی دخوب تروخته پوری خپل سبق ونه اودرسونه ضبطول ، اوبیابه ویده کیدلو .

پوهان وائی : هرچیری چه عشق اوهوسائی وی هلته به سعادت اوآرامی هم وی .

نوله همدی جهنه وچه دوی دری واړو بهیه ډیره مینه اومحبت سره ژوندون او ګذران کاوه . اوبوله بل ځنی بیخده اوبی انداری خوشحال اوخوښ وو . اوداورځی اوشپی به ئی په ډیره هوسائی اوآرامی سره تیره ولی .

(مجید) له خپلی بڼځی سره لهخده زیاته مینه او محبت کاوه . اوله خپل کچنی ورور (حمید) سره به ئی هم تل شفقت اومحبت کولو . اودوی دواړو به هم په ډیر احترام اومحبت سره

ketabton.com - The Digital Library

(مجید) ته کتلو اوددہ داوامر اوداشارو په ځای راوړلوکښ به‌ئی زیار و یستلو . په تیره یې (حمید) به دخپل مشر ورور دومره تابعداری کوله چه تقریبا د عبادت منزلی ته ډیره نژدی وه .

ولی چه (مجید) نه یوالحی د ده بیاغلی مشر و رور و ، بلکه د شفقت ،او د مرحمت له لوری ده ته د مشفق ، او مهربان پلار په ځای و . نو (حمید) به هم د خپل د (مجید) مشر و رور دوه غبرگی تعظیم اوتکریم کاوه اود خپل د ورور له خاطره به ئی د خپلی ورینداری هم ډیر عزت او احترام کاوه او د دی د گردو خدمتونو اواوامرو په ځای راوړلوکښ به‌ئی هم زیار و یستلو ، او بالمقابل دده ورینداری به هم ده ته په درنه سترگه کتل ، اوهغه لازمه خدمتونه چه بیائی یوه گرانه ورینداری‌ئی خپل لیورته وکړی د هغه به‌ئی په ډیر اخلاص اومحبت سره په ځای راوړل .

لنده داچه هغو دری واړو به یوله بله داسی مینه ، اومحبت سره کاوه چه له و راځخه د یو وجود په منزله په نظر راتلل ، اوهرچاچه د دوی دا گرمجوشی ، اوگډلون ، او لورینه لیدله،نو دا به‌ئی په خیال کښ راوړلو ، چه‌دادری سره په دری بدنوکښ یوه ساه او یوروح لری.

پنځم ټوک

هرکله چه د امتحان وخت نژدی کیدو . نو (حمید) به د ورځی له مخی په کورکښ پاتی کیده ،او خپل سبقونه به ئی تکرار ، او گردانول . ترخوچه خپل ځان د طب امتحان ورکولوته سنبال کړی .

(حبیبه) به هم د خپلو کارودپه سربرسولوځخه وروسته د وزگاری په وخت کښ یوه نیمه شیبه د ده‌خونی‌ته ورتلله ددی خوا ، اودهغی خوا خبری به‌ئی کولی . او چتی چتی

ketabton.com - The Digital Library

به خندیده ، او خوار (حمید) به ګی له کاره ایسته .کله به ګی د ده په کتابو کښ لاس وهلو او دهغو پاڼی به ګی دی خوا ،هغی خوا آړه ولی ،او عکسونو ته به خیر کیده کله به ګی هغه فنی اسبابو نه چه هیڅ دضرورت پوره کولو لپاره موجود وه ، ورځینی پتول پاڼی ورځینی تښتول .

بیسی منډی وهلی، او خپل اسباب به ګی بیرته ورځینی اخیستو، او بیا به پخپل کار باندی مصروفیدو۔ مګر (حبیبه) به بیاورته ، او په همغو لوبو به ګی لاس پوری کاوه ، اود (حمید) له پخسو لو ځینی به ګی لاس نه آ خیستلو .

د یر ځلی به د اسی هم پیښیده چه (حمید) به ددی د تو قو دلاسه په قهر کیده مګر دده دی قهر به هیڅ یو اثر یه (حبیبه) باندی نه کا و ه ، بلکه هغه به لا خو شحالیده ، اوده کښځاو ،او د قهر په مقابل کښ به کټ کټ خند یده ، او تیغ تیغ به ګی ورته کښل ، لنډه داچه مې ځوانی پیمځی ښځی به سره له عصبانیت، او خپه کید لود (حمید)همغسی سپین ستر ګیتیا کوله

ځکه چه د ځوانی ښځی روح کټ مټ لکه یو زړه ورځ کی ښائسته

یو زاغوندی دی ، او همغسی چه یو راځان په راز راز ګلانو

باندی مینی ، او له یو ځنی پاخیدلی ، په بل باندی کینی

همداشانی ځوانی ښځی هم که څه قید، او بست و رباندی نه وی

او پخپل سر آزاده وی همدارنګی کار و نه به کوی.

ketabton.com - The Digital Library

(حبیبه) به هم تل د (حمید) په شاؤ خوا کښ د بورا په شانی گرزیده، او د (حمید) دمعاشرت، او له ناستی و لاړی څخه به زیاته محظوظه، او خوشحالیده، او همیشه به ئی زیار و یستلو چه د (حمید) سترگی ځانته ور واړوی.

همداچه (حبیبی) به لیدلو چه (حمید) دکتابو په مطالعه کښ ډوب دی او پخپلو سبقو ئښ مشغول لتیا لری، نو له حده زیاته به خپه کیده، او ددی په کلموکښ به چا ډه گرزیده، او داسی ئی پهز ډه کښ سنجوله چه پاخیزی، او د (حمید) گرد کتابونه او اسبابونه په یو تنا ره کښ واچوی، اووئی سوزی چه دی ولی دی ته نه گوری او دی، سره خبری نه کوی چه تل خپلو کتابو ته گوری، او په هغه لیک، اولوستو باندی مشغول دی.

په رښتیا سره ښی او پیمخی ښځی گردی همداسی عادت لری چه غواړی نور کسان ټول هغه شیان چه غیر له دوی څخه وی، ایسته وغورځوی، او هیڅ ورته و نه گوری، او فقط همدی ته گوری، او تل دوی سره ښائی چه مشغولتیا ولری.

(حبیبه) هم په همدی عمومی حس کښ اخته وه. دور ځی څو ځلی د (حمید) خونی ته ورته، اوهغه به ئی له کاره ایسته، اونه ئی پریښوده چه خپل مقصدته ورسیزی.

هر کله به چه (حمید) غوښته چه دا په قراری، او د لاسا سره له خپل ځانه لری کړی هم نه کیده، او که خپه کیده هم څه فائده ورځنی نه مرتبیده، اوکه په قهریده هم په هغی پیمخی ښځی باندی دده قهر کوم اثر نه آچاوه.

ketabton.com - The Digital Library

دهمدی جهته دی چه اروپائیان وائی : (ښځی دنارینو په نسبت لکه سیوری دادول دی، که نارینه له ښځی څخه وتښتی ؛ نو هغه هم له ده سره روانه وی، اونه تری جلا کیږی) .

نوهر کله چه (حبیبه) به د (حمید) دابی پروائی ، اوبی اعتنائی ته کتل ، پخپلی سپین ستر گی کښی به ئی لازیاتوب کاوه ، اودورځی دیر ساعتونه به ئی له ده سره ددده په خونه کښی په همدی لوبو او پخسولو سره تیرول .

دا خم باید ووایل شی چه د (حبیبی) په زړه کښی یوه خاشه دبی وفائی او د خیانت نیه د خپل دصړه (حمید) په نسبت سره نه وه، اوله خپل مېړه سره ئی بی نهایته اخلاص، اومحبت در لود او په ده باندی دیره زیره اومهربانه وه او په دی اندازه سره ئی د خپل میړه اطاعت، اوتابعداری کوله چه له وراتقریبادعبادت په منزله ښکاریده . له بل لوری داهم له هره حیثه شاکره وه، اوهرشی وړته رسیده ، اوله خپلی ناستی اوملاستی څخه ئی هم څه شکایت نه لرلو .

نو بیائی له (حمید) څخه څه غوښتل ؟ . .

(حمید) ددی په نظر کښی داسی خوږ او محبوب و ، لکه د دی ورور ، اوداسی مینه اومحبت ئی ورسره کاوه ، لکه چه یوه خواخوږی خورئی له خپل وروسره کوی . اودایو معمولی کاردی . هوښیارانو ویلی دی :

« ددوو ځوانانو زړه ، دیواوبل په نزدیکت کښی د آشنائی تاداو زدی .

نوهر کله چه دآشنائی تخم دزړه په منځ کښی زرغون شی ، له هغه څخه دوستی داسی نهال شین کیږی چه پای ئی معلوم نه وی ، بنائی چه داد دوستی نهال یوه

ketabton.com - The Digital Library

ورځ دعشق میوه ونیسی.او ممکنه ده چه یه همغه ډومبنیو ورځوکښ له بی پروائی
اوتندی څخی وچ شی ، اوډیر ژاسی هم پیښیزی ،چه ددنیا حوادث هغه له ستی
څخه وباسی دا دژوندن یوه پانه ده چه هیڅوك دهغی له دقائقو څخه خبر نه دی .»

(حبیبه) او (حمید) هم په اول کښ یوبل سره آشنایان و .مگر اوس ددوی آشنائی
د دوستی تر مرتبی پوری رسیدلی ده .او داهم یومعمولی شی دی اوچندانی په خپلوی کښ
مهم نه گڼلی شی .

﴿ شپږم ټوك ﴾

یوه ورځ (حمید) پخپل کورکښ سبق ویل وچه له باندی څخه یو غږ د ده غوږ و ته
ورسیدو . چه غوږئی ونیولو وائی وریدلو چه و ر و ئی (محبـد) له خپلی ښځی سره
په زغرده سره سختی خبری کوی اوپه یوه کورنی موضوع کښ هغی ته سرزنښت ورکوی .

داموضوع کومه لویه خبره نه وه . یوه معمولی خبره وه چه ښځه اومیړه په هغه کښ سره نښتی و .
دا رازی لنډی جگړی هرکله دخښتنو اودمیرمنو په منځ کښ پیښیږی .

په ریښتیا سره دارازی جگړی کټ مټ دهغی مالگی یا ترشی په منزله دی چه په کټو کښ
ئی اچوی یائی د کوندری په خوا کښ ایږدی ترخو چه ذائقی ته ئی تغییر ورکړی اواشتهائی
زیاته کاندی .

ولی چه بورازی ژوندون اگر که په هوسائی اوعاشقی سره هم تیریزی سړی
ژوبله وی . صاف او شفاف آسمان اگر که څنه ښکاری ، مگر که دیر وخت
همغسی پاتی شی ، دخپگان سبب گرزی دخښتن اودمیرمنی په ژوندون کښ
مختصر ی جگړی داسی دی لکه په آسمان کښ وریځ چه کله کله د آسمان
اولمړاودستوریومخ پټوی ، او وروسته له هغه څخی دلمړاوسپوږمی اوستوریو

ketabton.com - The Digital Library

زړه وړونکی او ځلا ندی شعلی په تاک شنه او ر و ښا نه آ سما ن کښی
ډیری ښی ښکاریزی ، او زړونوته سرورا وسترګوته نوربښی ، همدا رازی
دوستی اومحبت هم ورو سته له کمکی جګړو خخه لاتو دیزی اوزیات خوږیزی .

خیر له دی برخی خخه تیر یز و :

د(حمید) تر ډیرو ورځو پوری غوږ ونه بریدل اوددوی طبیعتوا وخو یوته به متوجه ومګر دخپل
ورورا وورینداری په منځ کښ ئی پرته له مینی اومحبت اوخوږو ویناؤ خخه بل هیڅ شی نه آوریده.
مګر دا ا ځلی دی چه ددوی په منځ کښ جګړه پیښه شوی ده او (حبیبی) ته در ګرده
ری .

هر کله چه (حمید) د (حبیبی) دا سر زنبت و او ریده چه پله پسی ددده ور ور
هغی ته ور کو لو . نو یو عجیب ا حسا س او زړه خو ږی دد ته د (حبیبی)
په نسبت سرد پیدا شو .

یو ناخاپه به ددده په زړه کښ داخبره تیره شوه چه له خپله کوره و تلی زړتر زړه دی
جګړی ته خاتمه ورکړی . . . نو له خپله ځایه پاځیدلو . . . . بیا بیرته یخپل ځای کیناستلو . . .
او فکرئی کولو . . .

یخوامو وویل چه (حمید) دخپل مشر ورور (مجید) ډیر تعظیم اوتکریم کاوه اوددده
په زړه کښ ډ یر خوږوه . نواوس به و ګورو چه په د ی شیبه کښ د ی د خپلی خو نی په
ګونبه کښ یوالحی ناست دی په خه فکرو کښ دوب تللی دی ؟ ! . . .

ددده دزړه په منځ کښ یو پټ احساس او یوی نا معلومی مینی ځای نیولی و .

بنائی چه یخپله دی به هم له دی احساسه تراو سه پوری خبر نه و . ا و که کله کله به ئی
دهغی نښی هم یخپل وجود کښ لیدلی ځان به ئی په هغه باندی نه پوهولو ا و د هغی په مخ
کښ به ئی پرده ا چوله .

ketabton.com - The Digital Library

دا یې احساس څه شی و ؟

دی په دی باندی نه پوهیدو ! یا ئی نه غوښته چه ور باندی و پو هیږی ! یا ئی نشو ای کولای چه پری و پوهیږی ! .

دا مهم اویې احساس چه مونږ هم تراوسه پوری د هغه په کیفیت باندی خبر نه یو د عشق اود اضطراب ځنی یوه مخلوطه وه .

دعشق اوداضطراب په معنی باندی پدی ځای کښ ونه پوهیدو ؟

عشق دخیل دهغه مشرورور په نسبت چه پدې باندی ئی دیرحقونه لرلو اودده په حق کښ دیوه مهربان پلار په ځای واودده دژوندون گرد لوازم اوضروریات ئی برابرولو .

اویو داسی ورورئی و چه له خپلی گټی سره ئی دده د سعادت، اود هوسائی گرد لوازم مهیا کړی و نوځرنګه به وښی چه د یوهسی ورور په نسبت به عشق ،او مینه نه لری ؟ . . .

دابرخه تر یوحده پوری دیره ښه ښکاره ، او روښانه شوله . نود اضطراب په نسبت څه وائی چه دده دپریشانی سبب څه شی و ؟ . . .

تیاره ټکی همدادی چه تراوسه نه (حمید) ته څرګند شوی دی ، اونه مونږ ورباندی پوهیږو ! . . .

(حمید) له خوورځی پخوا په دی موضوع کښ خبر شوی و چه (حبیبه) له خالصی دوستی څخه پرته بل یو نری احساس هم لری .

په اوله ورځ کښ چه دی خبری ته ئی فهم وشو، نو په ځان وریږ دیدده، اودیر زیات پریشان شو. دوهمه ورځ کښ ئی د خو را خپګان ،او پریشانی له لاسه د خپلی خونی ور، له دننه خوا ځنځیر کړلو ، اود خونی په یوه ګوښه کښ کښاستلو ، اودیر زیات ئی وژړلو .

در یمه ورځ چه (حبیبه) دده خونی ته ورننوتله ، او دواړه سره مخامخ شول نو (حمید)

ketabton.com - The Digital Library

ـ ـ لاسه یاخبدلی په قهر، او کنټلو سره لی هغه له خپله کوره وایسته ، او ورلی بیا خپل ځان یسی ځنځیر کړلو .

څلورمه ورځ کهیځ له کوره ووت ، او ترتیر ماښام پوری بیرته خپل ځای ته را نه غی .

پنځمه ورځ د سردردی په بهانه په خپل چپرکټ باندی و غز یدلو ، او په بېرستن کښ ئی ځان یت کړلو مګر (حبیبه) د ده له خواخځه نه اړی کیدله، اوتل به ئی د مرض دکیفیت پوښتنه تری کوله ، اوراز راز دواوی به ئی ورته را وړلی، اوده به یه خو نه کښ به ئی یه زور ور تویولی .

شپږمه ورځ د (حمید) په خیال کښ داخبره تینګه شوه چه د ی پخپل ځان باندی غالب شوی دی ، او ده د زړه قبضه ده به لاس کښ ده ، مګر لږ خه شیبه ور وسته بیا پریشانی غالبه ور باندی وکړله .

یه دغه ورځ بیاده دوروره، او د ورینداری یه منځ کښ خه جګړه پیښه شوه ، نودی چه د دی جګړی یه وخت کښ د خپلی خوښی یه کنټرول کښ نا ست و یه یوځور فکر کښ پریوتلی ، او ورو سته له هغه ئی رغوښتلو چه د باندی ووزی د خپل ورور یه مقابل کښ د (حبیبی) طرفداری ، او حمایت وکړی، یه دی خیال کښ ئی یوځو پلوته هم دوره یه اوری واخیستل ، مګر و جو د ئی نا څاپه وریږ دیده ، او د ریږدیدلو یه واسطه وچ کلک پخپل ځای کښ پاتی شو .

دده یه زړه کښ داخبره تیره شوه چه هر کله دده د ورور (حبیبی) غوندی یوی ښځی سره هره ورځ جنګ وی ، نودی شه سړی نه دی ، یه همدی واسطه دده یه زړه کښ د (مجید) یه نسبت لږ خه تنفر هم پیدا شو .

دابد ، اوشوم احساس لږی ځلی دی چه د (حمید) یه زړه کښ د خپل ورور یه نسبت وګرزیدو مګر د خوښی ځای دی چه دابد احساس زر دهغه له زړه څخه ووت ، او بالی چه لږ

ketabton.com - The Digital Library

څه اثر به ئې پاتې وی . مګر هغه اثر دو مره لږ ، او نا څیز ه وچه له هغه څخه هیڅ و یر ه او اندیښنه نه کیده .

بهر تقدیر سره (حمید) بیا خپل وکړلو چه باید ه دی له کور ه ووځی که د (حبیبی) مرسته ونه کوی نو دخپل وزور مرسته خو به و کړی .

چه خر نګه دا خیال دد ه په زړه کښ تیر شو ، زړه ئې په غر ځنګ شو ، اوپه ټول بدن کښ ئې دګوزن وهلی په شانی ویزدل پیداشو . لنده داچه (حمید) له دیر فکر و هلو ، او دریدلو څخه آخر په تنګ شو ، اوله کوره ووت مګر دده له وتلو سره جفت جګړه هم پای ته رسیدلی و ه .

دده وروز له کوره بهر و و ت ، او (حبیبه) له ډډا څخه خوښ ځوښ دده په خونه کښ ننو ته .

هغه (حبیبه) چه چې له دغې ورځې څخه به هره وخ ت د (حمید) په خونه کښ په خندا ، او اکاډو سره ننوتله ، اوهیڅ ګله به ددی وچولی تریو ، اوخوله به ئې پته نه وه نن اول ځلی دی چه په ډډا سره ننوتله ، اوددد دو رورله لاسه ئې پتی کولی ، او اوښکی به ئې له ستر ګو څخه تو یولی .

(حمید) چه دا وضعیت ته وکتلو نو خاپه مخکه او آسمان وربانډی و خر خیدلو ، او بې اختیار ه له خپل ځای څخه پا څیدلی ، ددی په دلاسا کولو باندی ئې پیل وکړلو ، اوسرګی چه دده دچیرکټ په بازو باندی ایښی و پورته کړلو .

په عین همدی وخت کښ دده په وجود کښ یو سخت ریزدل ، او ارتعاش پیدا شو ، اویوی مرموز ی قوی به دی د (حبیبی) په لوری کش کاوه .

همغه قوه چه له دیری مودی څخه دده دروح په تپه تیاره کښ پته وه چه او س ناخاپه خرګنده شوی ده .

ketabton.com - The Digital Library

نورئی و نشوی کولای چه مقاومت وکړی . خپل لاسونه ئی ددی له مخ ، او سر خپه گرزول . لکه چه یوسور انګار دده په زړه کښې بل دی ، اختیار ئی له لاسه و وو ت او خپل سرئی شکته کړی په ریږد بدا،او اضطراب سره ئی مچی کړله .

او یخپل ځان باندی یوه نشو . یوه سخته لرزه اورغشه دده په اندامو کښې اویدلی وه .

په هغه حال کښې ئی احساس و کړلو چه (حبیبی) خپل ځان له ده څخه په هغه خوا کش کړلواوحال داو چه دا نه ده پوهیدلی. ځکه چه دهغی په وجود کښې هم د (حمید) له لاس ورووا او څخه همداسی یوه لرزه او ارتعاش پیدا شوی و . اوله دی جهته بی اختیاره دتشنج په حالت کښې له خپل ځایه هغی خواته غورزیدلی و .

دواړه هلك یلك اوحیران او ساختلی سره ناست و . (حمید) یودخوا او (حبیبه) بله خوا یه دوه قدمه لری فاصله کښې ولاړ او هغه ناسته وه .

داچوپیدا او حیرانیا تر دیره وخته پوری و زنډیدله . ترخو چه (حبیبه) له خپل ځایه پاخیده اود وره په لوری روانه شو له . او (حمید) له خپل ځایه هیڅ ونه خوزیدو اوهیڅ ئی ونه ویل .

یو ساعت و روسته که څوك د (حمید) دخونی له خوا څخه تیریدی نو دده د زړا غږ به ئی هرو مرو آوریده .

دده نوولی زړل؟ اوعلت ئی څه شی و ؟



ketabton.com - The Digital Library

ووم توك

دشپی له مخی (مجید) له نورو شپو څخه په وخت کور ته ورسیدو . او برابر د خپل وروړ خونی ته ننووت (حبیبه) په خپله خونه کښ په یوه کار باندی بخته وه . د وی دواړو وروڼو تردیره وخته پوری پخپل منځ کښ خبری او اتری سره کولی .

(مجید) دهغی جګړی په نسبت دیر خپه ، او پښیمانه و .

په پای کښ دواړه وروڼه په اتفاق سره د (حبیبه) د خونی خزاته ور غلل، ورتړلی و . دژړاغږګی دخونی له منځه آوریدو .

همدا چه (حبیبه) دخپل دمیړه اولیوره په ور تګ باندی وپوهیده ، په تلوار سره ګی دروازه پرانیته، اوښکی ګی له خپلو ستر ګوڼځه پاکی کړی،اوخپل اضطراب، اوپریشانی ګی هم په خو شحالی سره بدله کړه ، اود(مجید) ترخنګه داسی کښناسته لکه چه هیڅ یوشی ددوی په منځ کښ نه وی پیښ شوی .

په دی شیبه هم لکه نوری شپی دی کچنی کورنی په ګډه سره دوډی وخوړله او ،چای ګی وڅکولو ، اونمونځ ګی اداکړلو، او بنی بنی خبری، اومجلسونه ګی سره وکول .مګر دتیاری یو پټ عامل ددوی په منځ کښ دانبی ورځی، اوشپی ترتهدیدلاندی نیولی وی .

اصلی خبره موپریښوده ، اویه بله خوالاړو:

وموږ لیکل چه (مجید) په خپل هغه کار چه (حبیبه)غوندی یوی بنکلی تابعداری باوفا بیځی سره ګی جنګ کړی و ، سخت پښیمانه و ، نو له همدی جهته ګی (حبیبه) ته دیره دلاسا ګی ورکړله، اوعذرګی ورځنی وغوښتلو نوله دی سبیه (حبیبه) هم له زړه دده سره یخ ولاشوه ، او(مجید) ددی خپلی بدخوګی دجبران دپاره یوه جوړه دیر اعلی بوټان (حبیبه)ته

ketabton.com - The Digital Library

له بازاره په گرا ن قیمت سره واخیستلو ،چه دهغو یوتا نو له پښوکولوڅخه وروسته (حبیبه) په دی اندازی سره خوشحاله شوه ، چه گنه هیڅ ګی نه وژړلی، اوهیڅکله نه وه خپه شوی اوس راشه چه وګورو چه په دی ورځو کښ په (حمید) باندی څه تیریږی ؟

(حمید) خوار له هغی ورځی څخه راګیسی یو نوی شی پخپل وجود کښ لیده، اویو بل ژور احساس ددده په زړه کښ د(حبیبه) په نسبت پیدا شوی و ، چه دی دهغه له نوم څخه خبر نه و .

فقط د ومره پوهیده چه د (حبیبه) دنږدی کیدلو په وخت ، او د(حبیبه) دغږ د آو ریدلو په ساعت کښ، او د (حبیبه) په خیال کښ راتلوڅخی ، بی انداز ی نشاط ، اومحظو ظیت ،او خوشحالی ورته پیښیږی ، او لدی شیانوڅخی ددهپه زړه کښ غورځنګ ، او په روح کښ ګی د آ لوتلو علامی پیدا کیږی .

هر کله چه هغه له دی څخه زیات بل شی پخپل وجود کښ نه لیدلو ، اوهم نه پوهید وچه څه وکړی ؟ نوچوپ به و .

ورو ورو داسکوت،اوچو پیدائی په حیرت، اوحیرانتیا باندی بدله شوه .

وروسته له هغه به ډیری ورځی دخپلی خونی په یوه کنج کښ ګوښی ناست و ، اوتری تری به ګی یولوری ، او بل لوری ته کتل .

پ د ومبنیو ورځو کښ به (حمید) له دی خپل حالت څخه په تعجب کښ وه ، اوترا به ګی ورځی خوله . ولی په تدریج سره ګی داترا خوړل، او تعجب هم ورک شو ، او هر څیری به لکه یوبت غوندی وچ کلک ناست، او.تپه تپه به ګی یو خوا ته کتل .

لنده داچه په دی روحی بحران باندی یوه هفته مبتلا و .

یوه هفته تیره شوه. ددده روحی بحران دو ر ه تمامه شوه ،اوهغه پته اورچه د ومبنی شعلهګی او څه شوی وه دمخه زیاتیدو ، او تودښت ګی ساعت په ساعت ډیر یدو .

ketabton.com - The Digital Library

نواوس یوه شو چه دی عاشق شوی دی ، او په یوی داسی لوئی بلا اخته شوی دی چه هر سرئی غم دی،او په داسی یوه تیاره کښ پروت دی چه « پاکئی تری ورك دی » او یاد پښتانه دمثل سره برابر داسی یوځای کښ ولاړ دی چه « دی خوانه ئی گرنگ او هغی خوانه ئی پرانگ دی . که دی دخپلی عاشقی درد دوا کوی برسیره په دی چه د دنیا شرمندگی او رسوائی او دعقبی باز خواست ورته پښیدونکی دی گویا دی له خپل مهربان ، او ښاغلی مشر ورور سره (چه کټ مټ دده دپلار په منزله دی) یوخورا لوی خیانت هم کوی ، او که دی فکر،او تصور پسی بالکل ونه گرزی په زړه کښ ئی د (حبیبه) دعشق داسی کاری غیشی لگیدلی دی چه دهغه ایستل فقط د (حبیبه) دناز کی گوتی کاردی ، او دهغه پرهار علاج فقط د(حبیبه) وصل دی ، اوبس .

کوم وخت به چه (حمید) د خپل ورور دشفقت ، او دمرحمت ، او د پالنی ، اودمهربانی مراتب یخپل زړه کښ گرزول، اوچه بیا به ئی دخپلی عاشقی ددی نوی درد تصور کاوه نو دنیا به وربانديگرده تاویده ، او خرخیده ،او ویښتان به ئی زیگه شول اوجگ جگ به دریدل ، اومصمم کیده به چه بایده دی داچتی فکر ، او داشیطانی حرکت چه دده دمشرورور په نسبت خورا در وند خیانت دی هرو مرو پریږدی .

او هرځله ئی چه د (حبیبه) ملاحت او لطافت،اوحسن، اوکرشمی، او دهغی عشق ،اومحبت په تصور کښ ورتلو،نولیده به ئی چه له دی لحنی همر غیده نشته نو رار زار به ئی ژړل او غټی غټی اوښکی به ئی له ستر گو څخه بهیدلی ، او ویل به ئی چه خدایا اخه بلادی رابانديگرولی ، اوخه سخت تندردی را بانديگرزولی دی .

خدایا استا دخپل حبیب په لحاظ، او خاطر سره یازما زړه د (حبیبه) له عشق، او مینی

ketabton.com - The Digital Library

څخه خلاص کړی، یازما ساه را څخه واخلی، او په شرمومی مه شرموی، او دباغلی (مجید خان) په مقابل کښ می خیانت کاره، او متجاوز مه گرزوی .

سره له داسی راز نارو اوسورو د (حبیبه) محبت، اوعشق ده باندی لازیاتیده، اوهغی دمینی لمبه دده په گرد وجود کښ بلیده، اوتل به ئی ستر گی دوره په لوری ختلی وی چه دیوی حوا، اوبلی خوا تیریدو په وخت کښ ئی تل وینی، اوغوږه به ئی ددی دغیږ داوریدو دپاره ځیرو، او خپلی سوگمی به ئی رابنکودلی چه ممکنه ده دهغی خوشبوئی ئی ترسو گمو شی، او دیر ځلی به دی په (حبیبه) پسی همغسی زغاست لکه چه (حبیبه) پخوا په ده پسی تله ازراتله، اوخواد نخواد به ئی گومه موضوع پیدا کړی هغی سره به ئی خبری اوتوقی کولی .

او په عین هغه حال کښ حمیده خپل ځان په ډیر ځیرو، اوګڼلو څخه ممجاوز ګیدو ته یی کیدل، زړ تر زړه به ئی د(مجید) خبره په مخ کښ د ... اوله لاس ورلوڅنی به لری کیدلو د ورور ولی وظیفی به دحال په ژبه ورته ویل سه ی (حمیده) داچتی خبالوته چه دا او عقبی دخرابوی، او تازما خوا خوږی ورور پمخ کښ شرموی، له سر څخه و باسه ! زما دحرمه په نسبت چه تاسره می ډیری ښی ګڼنی کړیدی، تل امین، او وفادار اوسه .

که رښتیا اوری ! (حمید) هم همداسی غوښته، اوهمدابه ئی تل په زړه کښ و. مګر خوارځه وګړی، چه دده دزړه اختیار دده په لاس کښ نه وه. ددهغان، او واك دبل چا په لاس کښ و او بلا اراده په دا خطر ناکه کښده کښ (چه پای ئی معلوم نه وه) لویده .

دده میل، او خواهش همداو چه باید و د ریږی، او په دا بی سر او سامان چول او بیابان کښ نه ځی، مګر بل یو لوی قوه حد عشق ئی بولی دی به ئی د شاله اوری تیل واهه، چه هله ! زرکه لاړشه ! در یږه مه !

ketabton.com - The Digital Library

اتم ټوک

(حبیبه) هم د (حمید) په درد باندی اخته وه . هغی هم له دی غم انګیزه عاطفی ځنی (چه د « عشق » په نامه سره یادیږی) څه برخه لرله ، مګر دا ټی عفت ، او فطری عصمت ، او دمیړه امانت ، او دمیرمنی توب و فا داری ، ددی په مخ کښ یو لوی دیوال او دټینګ سد په شانی ولاړو ، او د خپل زړه خبری ګی نشوی ښکاره کولای . نو یخپل زړه کښ به ګی په پته سره غم کو لو ، او رنځ به ګی ایستلو ، او په خوله به ګی هیڅ نه ویلو مګر داد پښتو دلنډی مفهوم به ګی تل په زړه کښ ګرزولو

پټ مین یم پټ به ژړم

پټی به او ښکی ګریو انه ته تو یو مه

د (حمید) خونی ته به اوس ډیره لږ ورتله ، مګر تل به ګی خپلی ګړی کی څخه ، د د ه خونی ته کتل ، او د د ګرد حرکات او سکنات به ګی لکه یوماهر عکاس د غور په ستر ګو سره لیدل ، او دهغو عکاس ګی یخپل زړه کښ ثبتاوه چه دنه لیدلو په وخت کښ ګله هغو ځنی استفاده وکوی .

د (حبیبه) په زړه کښ به وه چه خپل کار پسی لاړه شی مګر کار به ګی له لاسه نه ویوړه . غوښتل به ګی چه له خپلی خونی ځنی بهرته لاړه شی ، مګر ددی په پښو کښ به قوت نه و چه پاخیږی .

(حبیبه) هم په دوه مختلفو حسو کښ لو یدلی وه ، له یوه لوری « عشق اوله بل لو ری « وظیفه » ددی په زړه کښ سره په جنګ و ، اوهریو به خپل قوت اوقدرت ښندلو تر څو چه بری مونده کاندی او (حبیبه) هغی خواته ورکش کړی . داخواره کی په د ی منځ ښ سرګردانه اوحیرانه پاتی وه ، اوهیڅ نه پوهیده چه خپل لیونی زړه ګی سره څه وکړی؟ .

که کوم وخت به (حمید) له کوره بهر وتلی و ، نو (حبیبه) به دانګړ لوګی دروازی ته

ketabton.com - The Digital Library

سترگی نیولی منتظره به ناسته وه ، چه (حمید) به څه وخت بیرته راځی. همدا چه (حمید) به ننووت (حبیبه) به دهغه له مخ لخنی تښتیدلی په کور کښ به پتیده اوهلته به ئی سر په دواړو لاسو کښ نیولی زار زار به ئی ژړلی .

دشپی لهځی به چه دوی گرد ددودی اوچتی لپاره سره تولیدل (حبیبه) به په ډیرمشکل سره خپل ځان اداره کاوه ، اوترخپل واك لاندی به ئی ساته اوپه هره وسیله سره چه کیدله ځان به ئی آرامښکاراوه .د(حمید) حال هم دگډلون په وخت کښ کټ مټ د(حبیبه) په شان و.

(مجید) له یوی میاشتی څخه په ئیسی تل گوری چه دښځی رنګ ئی ورځ په ورځ تغیرمومی اومخ ئی تك زیړ آو ښتی دی او همداسی ئی دورور وضعیت هم ورځ په ورځ وړانیږی مګر په سر باندی ئی نه پوهیدلوچه (حمید) باندی څه شویدی ؟ چه ورځ په ورځ ډنګریزی او ضعف او نقاهت ئی آخری درجی ته رسیدلی دی ؟ او همداسی حیران و ؟ چه(حبیبه) ولی غمجنه ښکاری ؟ اودمخ کل ئی مړاوی پریښی ؟ اوتل ئی دلحوانی په بهار کښ دخزان اثر ښکاریزی ؟ . .

په زښتیا سره دالکه لمرغوندی ښکاره وه چه هم (حبیبه) په دی وړ ستنیو څو هفتوکښ ډیره غمجنه اوپریشانه ده اوهم (حمید) ورځ په ورځ خرابیزی .

(مجید) چه خپل ورور سره ډیره مینه لرله اوهم ئی ښځه ورباندی ډیره گرانه وه دی حال اوتغیراتو له لیدلو لخنی ډیرحیران اوپریشان و . دده په خیال کښ داسی راتله چه د (حمید) دپریشانی سبب خوبه همداوی چه امتحان ئی نژدی دی ،اودی دهغه له نتیجی څخه ویریزی . مګرد (حبیبه) دخپګان په علت باندی هیڅ نه پوهیده،اوپه تعجب کښ پروت و،اوهر څومره ئی چه په دی مو ضوع کښ فکر واهه په درك باندی ئی نه پوهیده - د څوورځو له فکرو هلوځلنی وروسته دائی په چرت کښ راغلـه چه بنا ئی (حبیبه) به دکور له ډیروکیناستلو څخه په تنګ شویوی ؟ .

ketabton.com - The Digital Library

وړو وړودا فکر د(مجید) په‌ماغز وکښ غوت ونیولو ولی چه بل هیڅ یو دلیل د(حبیبه) دپریشانی لپاره دده په زړه کښ نه ورتلو اویه عین حال کښ دی خبری ته ئی دیره تلوسه وه چه هر و مرو شانی د (حبیبه) د دی د ر د تشخیص په ښه شان سره وکړی

هغه وخت چه داوهامو سخته سیلی ، او دبدگمانی طوفان دچاروخ یخیلو منگلو کښ ونیسی ، له هر لوری پریشانه فکرونه په‌هغه باندی یر غل کوی اوهجوم راوړی ، اوهغه خپل خوراسپك خیالات ، کټ مټ دحقیقت په صورت سره وینی . ترڅو چه د داسی وهمی اوچتی فکر و په سبب سره ، له روحی پریشانی ځنی خلاصی پیدا کاندی ، نوله‌دی جهته پوهانو ویلی دی چه انسانی روح ته‌هیڅ یوآفت له‌تردید اوشك‌څخه‌زیات‌ضرر رسوونکی نه دی،اوښائی چه انسانان تل خپل ځانونه له شك اوتردید ځنی ژغوری .

(مجید) هم په دی موضوع کښ دشك اوتردید له لاسه په ځان رسیدلی و . او آخرئی داخبره په زړه کښاستله چه (حبیبه) فقط د کورد کارو اود ډیری ناستی دلاسه ، دسل او ددق په رنځوری سره اخته شوی ده . نوله دی جهته ددی دعلاج په تدبیر کښ شو .

له یوی خوا د(حبیبی) کورنی کارونه دو مره ډیر و ، چه یوه شیبه هم له صبانه تربیگاپوری وزگاره نه وه ، اوله بل لوری (مجید) هم نه شو کولای چه خپله ښځه یوالحی بی له کوم محرم څخه پریږدی چه چیری لاړه شی .

دامشکلات زرله منځه ورك شول . ولی چه د (مجید) په زړه کښ داخبره هم تینگه شوی چه (حمید) به‌هم دامتحان له لاړه ځنی خپه وی ؟ اوشپه او ورځ ئی د خپلو سبقو په تکرارولو اوگردانولو سره خپل ماغزه گرزولی ؟ او داضعف اوناتوانی هم له ډیرو مطالعی اودزیار ویستلو په‌سبب و رپیښه شوی ده ؟ نوله دی جهته (حمید) ته هم گرزیدا اوتفریح په کار ده .

ketabton.com - The Digital Library

په دی خبره باندی خبر نه و ، اوله پوهیدو چه کشر ورورګی (حمید) له ډیرو وړ ځو راڅخه له ټکلو ، اولوستلو ، اوسبق ویلو ځنی بیزار شوی دی ، او داضعف ، اوناتوانی اوپریشانی له بل لوری ورته پښه شوی ده .

خیر ! (مجید) داسی یوقصد ، او اراده وکوله چه له دې په وروسته به دصبالی اویګانی له ځی (حبیبه) دده له کچنی ورور (حمید) سره لږ څه بهرته درومی ، او وروسته له ګردش اوتفریحه به دواړه بیرته سره رادرومی .

ګویا (مجید) پخپل خیال کښ په یوه غیښی دوی نښی ویشتلی یعنی غوښتلی چه په دی وسیلی سره له یو خوا (حبیبه) لهپریشانی اوګونبی توبه ځنی خلاصه کاندی ، اوله بل لوری ئی په زړه کښ خپل ورورته هم (چه په خپلو سبقو کښ له ډیرو زیار ویستلو څخه نالکاړ ځه شوندی) خه تفریح ، اوفهم غلطی ورکړی ، اودا کار دده په نظر ډیرښه ښکاریدو .

یوه شنه په داسی حال کښ چه (حمید) پخپل ټوړکښ په ظاهر سره په مطالعه کښ مشغول و یعنی کتاب ئی پخپل مخ کښ پرانیستلی ، او ورته کتل ئی ، مګر فکر ئی لکه یو وحشی مرغه دکتاب له تور یو ځنی په تیښته ، اوپه یوبل عالم کښ الوتلو ، (مجید) ورباندی ننوتلی وزنه وئی ویل :

زما جانه ! دومره زیاته مطالعه مه کوه ، چه روغتیاته دی ډیر نقصان لری ! وروسته له دی څخه لږ ساعت چوپ شوی ، اوپه چرت کښ تللی بیاپه خبرو شوی (حمید) ته ئی وویل :

زما دسترګو تور ه ! پا څه نن شپه دسینما سیل ته لاړ شه ، چه پاڼه دغلط شی ! "

اګر که (حمید) هیڅ نه غوښتلو چه له کوره بهر شی مګر دلږ څه فکر وهلو څخه په وروسته ، دخپل دوورله دی خبری ځنی خوښ شو ، اوپه زړه کښ ئی داخبره تیره شوه ، چه دی مشغولتیاته می تراوسه پوری پام نه وه شوی ، ولی زه به تل پخوا له دینه چه د (حبیبه) دمینی لمبی زما په وجود کښ نه وی بلی شوی ، دسبق په ویلو

ketabton.com - The Digital Library

به بخت وم ، اوفقط خوځلی سینماته تللی یم ، او اوس دادی چه د (حبیبه) دعشق په اورکښ سوزم ، راشه چه نن شپه سینماته لاړشم ، که خدای کړی وی گوندی چه هلته می لږ خه پام غلط شی .

نوزر یا څیده ،او دریشی ئی واغو ستله ، او له خپلی خو نی ځنی بهر شو . که گو ری چه (حبیبه) هم خپل کالی آغوستی اوځان ئی سنبال کړی، دانګړیه مخ کښ بهر وتلوته تیاره ده .

(حمید) ددی منظری له کتلو سره نږدی وچه بیهوش شوی په مځکه ویږزی ، مګر په ډیر مشکل سره ئی ځان و نیولو ، مګر بیا هم دده په وجود باندی لړزش ښکاره و ، او غا ښونه به ئی یوپه بل سره لګیدل ، او لینګیو کښ ئی دریږدیدا اثرمعلومیده .

په عین همدی وخت کښ چه (حبیبه ـ او ـ حمید) دواړه په حویلی کښ سره یوځای کیدلو (مجید) هم ددوی تر شا رسیدلی (حمید) ئی مخاطب وگر زاوه چه « زویه ! (حبیبه) هم ځان سره سینماته یوزه ! .

دی لنډی گنډی جملی په (حمید) باندی خو راعجیبه تأثیر ونه وغورځول ، او دی ددی خبری له آوریدو ځنی په داسی یو حالت کښ ولوید ولکه چه داورعتی غټی سکرو تی دده په سر اوځگرکښ لویدلی وی.

بیامخکه ور باندی گرده وخرخیداه ، اوپه سرکښ ئی سخت دوران پیدا شو ، اوکه په دیوال باندی ئی نکیه نه وی کړی ، هیڅ لری نه وه چه لنګس ئی خوړلی ،او لویدلی به و .

نا خاپه دده په زړه کښ داخبره تیره شوه چه بنا ئی زما ورور به ز ما له دی معا شقی ځنی خبر شوبوی ، او اوس ئی زما درسوالی لپاره دانقشه روغه کړی وی .

زړه ئی غوښته چه یوه بی ترا چیغه ووهی ، اوپه ډیره زاری ، او خواری سره داحقیقت خپل خوا خوږی ورور ته (لکه چه دی) هغسی رنګه څر ګند کاندی ،او دخپلی دیګنا هی او ځان ژغورلو په نسبت دده په مخ کښ قسمونه وخوری ،او وادی .

ketabton.com - The Digital Library

مګر پخوالدی څخه چه دی خپله خوله وخوزوی (مجید) وپاندی شوی له جیبه ګی یو شل روپیګنز نوټ و یستلی ، اوده ته ئی ورکړلو،اویه یوه معمولی لهجه سره ګی ورته وویل چه « داهم واخله » .

ددی وضعیت ، اوخبری څخه فی الحال (حمید) وپوهیدو چه ورورګی لاددی له عاشقی څخی خبر نه دی.

سمدلاسه یوه بله لویه وسوسه ، او سودا - ده ته ورپیښه شوه ، اوهغه داوه چه که دی او (حبیبه) په دی تیه تیاره شپه کښی له دی ځایه عین تر سینماپوری لاړشی ، اوبیا په سینما کښی یوه موده سره یو ځای کښینی ، او بیا له هغه ځایه په نیمه شپه کښی سره بیرته را درومی مبادا چه له ده څخی چپ له شریعت ، او انسانیت څخه کوم حرکت صادر شی،او ځان ذد نیا او آخرت په شرمو باندی وشرموی !

هغه غوښتل چه دخپل ورورپه نسبت وفادار اوسی او دده حرمت ته ترخو ئی چه عقل اوفکر په سر کښی وی ګوتی ورنه وړی ، مګر یخپل یاغی زړګی باندی ئی چندانی پاڅینه نه لرله .

هو ! دی پوهیده چه انسانی روح دعشق اودبهیمی قوی په مخ کښی ډیر کمزوری او ناتوانه دی . اود هوسو اوخواهشو په مقابل کښی کټ مټ دیوه میاشی په شان د سختی سیلی په مخ کښی دی . اوداخبره ورته معلومه وه چه هوس لرونکی زړه و حشی غرځی غوندی له اسلامی اوامرو او اخلاقی تعلیماتو څخی د ر ذ ائلو ورشوته تښتی .

ketabton.com - The Digital Library

نو له دی سبه د (حمید) زړه نه و ، چه (حبیبه) سره یوځای له کوره ووزی ، ځکه چه پخپل ځان باندی ویریده ، چه واك ئی له لاسه بهر نشی ، اودامانت داری او دوفاداری له حدوده ، بهرپل کینږ د ی .

همداو هغه لاس ئی چه دنوټ د ا خیستلو لپاره غز و لی و ، ور بیرته ئی ګر لو ، او په لږزیدلی غږ سره ئی ورته وویل : نه ! ، زه نه ځم ! » .

(مجید) ورته وویل : « نوکالی دولی واغوستل ؟» .

اګرکه دا سوال ډیره یوه عادی او معمولی خبره وه ، هر کله چه (حمید) خپل لاس او پښی په دی ځای کښ ورك کړی و ، هرځو مره ئی چه په خپل فکر او ماغزو باندی زور واچو لو ، چه دخپل دنه تګ لپا ره کو مه بهانه او پلمه جو ړ ه کړی و ئی نشو ی کولای ، فقط دو مره ئی په زړه کښ تیره شوه ، که په دی مو ضوع کښ خه ز یاتی خبری و کړی ، نه چه دا پته خبره ئی ښکاره ، یائی ورور ور باندی بد ګمان شی ناچاره ئی بیا لاس ورووزد کړی نوټ ئی ورځنی واخیست اوله (حبیبه) سر ه یو ځای له انګړه ځنی ووت.

(مجید) د کوڅی تر آ خره پوری له دوی سره لاړ . اوهلته ئی په ورو چه (حبیبه) پوه نشوه خپل ورورته وویل : « په دا سی یوه لاره تر سینما پوری لاړشی چه په هغی لاری کښ دخلقو بیړاو باړ کم وی ، اوتاسو په هوسائی سره لاړشی اوراشی اودتګ په و خت کښ د تل (حبیبه) ته پیام و ی . »

دی خوارنه پوهیده چه هغه پخپل لاس وازد ه پیشوته وسپارله ! یائی اوردبارودو تر خوا ولګولو ! ! اوړنده شوی تیشه ئی پخپله پښه ووهله ! ! !

خه به وکړی شی د دنیا قانون همدا سی چلیږی ، اوسړی د دا سی کار وپه فلسفه باندی نه پوهیږی.

ketabton.com - The Digital Library

دخلقو عادت په دی باندی جاری دی چه له قضا او قدر څخی شکایت
وکړی او د بدبختی او مصیبت په وخت کښ له فلکه پتی ولری
مگر په دی باندی نه پوهیږی چه ټول دخطر لومه انسانان خپلو خانونه
پخپلو لاسو سره تاوه وی. او هره هغه بدبختی او مصیبت چه نن چاته
پیښیږی د هغه غفلت او د بی پروائی نتیجه گڼله شی چه پرون ئی
کړی وه.

(حبیبه) او (حمید) دواړه سره یوځای له کوخو او بازار وخخی تیریدل، اویه ټولو لارو
کښ په چوپه چوپتیا سره روان وو، او یوه هم له دوی څخه شونډی نه خوځیږ
هرکله چه له لوی بازار څخه چه هلته ډیر از دحام و تیریدل، نو دواړه سره ودرد
شول ترڅو چه یو بل سره غښتلی نشی.

(حمید) د (حبیبه) په نژدیکت سره پخپل وجود کښ د اسی یوارتعاش او اضطراب
محسوسا وه چه له نشاط او ډیر خوند څخی روغ شوی و.

دا احساس چه مرکب وله عشق او اضطراب، او له ویری او تفکر څخه، (حمید) ټولی
دمد او جزر، یا قبض او بسط، یا خوف او رجا غوندی یو حالت پیدا کړی و.

(حبیبه) ته به ئی چه کتل د عشق لمبی به ور باندی بلیدلی.

د دنیا رسو الګی او د آخرت د پوښتنی خیال به ئی چه کاوه، و یریده به،
خپل ورور ته به ئی چه فکر کاوه اضطراب به ئی زیاتیده.

ketabton.com - The Digital Library

که به لږ په‌دی بد ه مسئله کښ فکر کیدل ، نو له حده ز یا ته ځان پښته او خو را ډیره ویره په ور ته پیښیږ ه .

دا گرد مختلفه احساسات سره غونډ شوی ، په ده باندی یو عجیبه حالت طاری شوی و چه له لږو نیا نو ا و شرا یا نو سره ئی فرق نه کیدل لو . نکه مست شو یو او بیخود انو غو ندی په لا ر ه تلو . خپل وا ك ئی په لا س کښ نه‌و خو ځلی ئی له نورو تلو نکو سره تکر وخوړ لو یو ځلی نژ دی و چه سخت په ځکه باند ی و لګیږی سر، یا ئی اورمیږ مات. شی بل ځلی ئی بیا یو سخت کنګس و خو ړلو مګر آفرین دوی په (حبیبه) باندی چه میړانه ئی وکو له، اوز رئی له لاسه ونیو لو ا و پر ی ئی نه ښو دلو چه و لو یږی ... ا و که چیری په هغه سر ك باند ی چه گر د په د بر و ا و پلنو پلنو تیږو با ند ی فر ش شو ی و ، لو یدل وی، مړ به و .

ددی حالت له کتلو څخه گردو تلو نکو ، دی میړ نی ښځی ته تحسین او آفر ین وو یلو او دی سړی سر ه تو لو کسا نو همدر دی کو له ، اوویل به ئی چه خد ای د دی ښځی ته خیر او بر کت ور کړی چه داسړی ئی له مر گه څخی خلا ص کړلو .

وروسته له دی څخه چه د (حبیبه) پاسته لاسونه دده په وجود باندی ولګیدل ، او هغه له نږدی څخه ددی په بوی باندی متحسس شو ، نو لږ څه په خود شو ، مګر دده په گردو اعضا ، او پلو باند ی داسی بوی ب ر قی شرار ی ننوځ ، او جریا ن لرلو چه له خو شحالی او نشاطه څخی روغ شوی وه ، په بله ژبه دده په وجود کښ دارازی وضعیت پیدا شوی و لکه چه د نړی وزمی له تبریدو څخه دیولوی تالاب په مخ کښ له اوبو څخی کمکی کمکی چپی پیدا کیږی .

اوس نو بیا د ټینګیدا قوه دده په وجود کښ نه وه پاتی، او واك ئی بیاله لاسه وتلی و . ولی چه بیا ئی پخپل زده کښ هغه دده یو له بله مختلف احساس لیدلو چه عبارت دی له عشق

ketabton.com - The Digital Library

اومینی ، او وفاداری ، او وظیفی څخه ، اولږه شیبه تیره نه وه ، چه بیاهمنه دواړه احساسات یخیلو منځو کښې په شخړه شول ، اودهنه په وجود باندی بیاهمغسی د مغلوبیت یو ه منظره ښکاره شوه ، اوبیاځی اراده له لاسه ووتله ، او نه پوهیدو چه دده په مغز و باندی څه تندر ولوید و ، چه دی هیڅ نه پوهیږی ، چه څه وکړی ، او په کومه لاره شی .

دی خوار په دی حالت کښې لکه هغه ناز که ښه یاتنکی وچ وا ښه ، چه دسختی تندی سیلی د جریان په مقابل کښې پریوتلی وی ، واقع شوی و ، اوبی واکه قد مونه به ګی آخستل او (حبیبه) سره لکه یوبیهوش شوی سړی څنګ په څنګ تلو ، او دتلونکو په ډله کښې به ځی دیر ځلی له نورو خلقو سره تکرونه خوړل او پرته له دی څخه چه کله به ګی پښه ، او کله به ګی لاس ، او کله به ګی ، اوزه او کله به ګی سر ، او تېر ، اوشایه ځینی شیانو باندی لګیدل او خوږیدل به ، اوبل لاس ګی کلك د (حبیبه) په ناز کو مغګلو کښې نیولی شوی و ، چه نه ګی پریښوده چه ولویږی ، نور په بل شی باندی هیڅ نه پوهیدو .

(حمید) پهدی وخت کښې پهیو سرموز : اوبجهول وضعیت سره اخته دی . فکر : اوخیال ګی دیر زیات خراب شوی دی . دمحاکمی قوه ورنه ورنه ده . عقل ، اوپوهنه تری هیره شوی ده . دماضی ، او دحال ، او دمستقبل خبری تولی دده په مغز وکښې سره غونډی شوی دهغه پهمخیله کښې ګی یوعجیبه معجون ، او مخلوط روغ کړی دی ، چه دی خوار دهغه په سر ، اوبر باندی هیڅ نه پوهیږی ، اورد ، اولودن تری ورك دی . فقط په دی تپه تیاره کښې ګی کله کله دخپلی دمور (فاطمی) اودخپل ورور د (مجید) ، او د خپلی د محبوبی (حبیبه) څهره لیدله اوپه تیره د (حبیبه) مخ دده په نظر کښې داسی ښاګسته بریښیدو چه پهغه باندی درنا یوه پرده (لکه چه کله کله له سپوږمی څخه چا پر دنور شپول لیده شی) اوید لی وی .

(حمید) په داروحی شور ماشور او غوغا کښې په خپل وضعیت ، او موقعیت ، اوتکلیف باندی هیڅ نه پوهیدو ، تردی چه پهدی باندی هم نه و خبر چه دی ولی نن شپه له کوره

ketabton.com - The Digital Library

وتلی دی ؟ اودا غیر مترقبه لطف، او مرحمت د (حبیبه) له لوری دده په نسبت ولی ښندل کیږی ؟ اودی څرنګه له (حبیبه) سره څنګ په څنګ، اولاس په لاس روان دی ؟ .

د شرك په ار ته کښ چه هلته د خلقو بیړ و باډ لږ و، او رنا ډیره لویده (حبیبه) ناچاره شوه چه (حمید) و دروی ، او په سد ګی کاندی، نو وروسته له پنه نیولو څخه ئی (حمید) ته وویل : « زما عزیزه ! لږ لحان بید ار کړه چه چیری ونه لویږي ، اوکوم ځای دیاخوږ نشی اوکه د طبیعت ډیروران وی . رازه چه د سینماله سیل لحنی تیرشوی بیرته کورته لاړشو » . سبحان الله ! ددی خبری یو عجیبه اثر په (حمید) باندی ښکاره شو، او سمدلاسه ئی په خوب ویده عقل، او یوهنه له خوبه لحنی و ینه شوله، او په رنوستر ګو سره ګی ولیده چه د (حبیبه) ترځنګ لاس په لاس لخامخ ولاړدی . سمدلاسه دده د ورور څیره هم د ده په مخ کښ ودریده ، او زړګی یې له حیا، او وفا، اوداماانت له سبیه ستر ګی پتی کړی . چه (حبیبه) سره ستر ګی په ستر ګی نشی ولی چه (حمید) ډیر یومسلمان، اوباحیا، او شرمناکه لحلمی و . مګر په دی ډنډ کښ د عشق او مینی له لاسه لویدلی و ، نولحکه چه لږ څه پخودکیده د خجالت ، او د شرمندګی احساس ګی په وجود کښ له وراښکاریده .

ومو ویل چه مینی، او وظیفی د ده په روح کښ جنګ او شخړه سره لرله . یعنی د (حبیبه) مینه ، او د ورورولی وظیفه .

هرکله چه مونږ غواړو چه زمونږ ښاغلی لوستوونکی په دی موضوع باندی په ښه ډول و پوهیږی ، نودلته یوتشبیه یا یو مثال راوړو ، اوهنه دادی چه دلته د مینی مجسمه ، عبارت ده د (حبیبه) له وجود څخه ، او د وظیفی مقصد ، مطلب دی د (مجید) له ذاته لحنی ګویا چه دادواړه کسان ، دمیدم پرله پسی د ده په زړه کښ ښکاریدل ، او بیا پتیدل .

د (مجید) څیره به ده ته په وظیفه پیژندلو سره توصیه کوله ، اوخپل محبتونه، او روزنی او شفقتونه به ګی ور په یاده ول ، اوله ده څخه ګی د وفاداری اوداماانت شعاری انتظار لرلو

ketabton.com - The Digital Library

د (حبیبه) څهره چه دده په نظر کښ ښکاریده په خپل عجیب قدرت سره به ئی نور هرشی دده له یاده ویستل.

اوبه دی وخت کښ به (حمید) دهغه تیزی په شان وه چه په سخته گرمی کښ دیو خو رایخو اوبو دکاریز دویالی په غاړه و لاړوی ، اوغواړی چه له هغو اوبو څخه لږ څه وخکی اوخپله تنده پری ماته کړی . همدا چه او بوته لاس وړاندی کړی سمد لاسه یو سړی راشی اوپری ئی نیزدی چه اوبه وخکی ، یعنی په مجرد ددی چه (حمید) غوښته چه (حبیبه) ته گوتی ووړاندی کړی ، فی الحال دده د وروړمخ وریه یاد یده .

بالآخره (حمید) مغلوب شه ، اووظیفی دمینی په مقابل کښ مقاومت ونشو کولی ، اود څلمی توب احساساتو گردنورشیان له منځه ورک کړل .

(حمید) اوس په ډیرو بدو خیالو باندی مشغول دی ، اولکه هغه کسان چه دتبی په حالت کښ پرته پرته ویل کوی ، دی هم په چټی چټی فکروکښ پروت و ، اوهره گړی به هرهرشی د دده زړه کښ گرزیدل ، اودلاسه ئی نه وه پوره چه دافضول خیالات له خپل ځانه لری کړی .

په همدی خیالو اواندیښنوکښ دوب دسینما دروازی ته ورسیدل ، او (حمید) د (حبیبه) په تو مبل او اشاره سره بیاله خپل چرت څخه وتلی اوزرئی دسینما داولی درجی دوه تکسونه آخستی او دواړه سره لاس په لاس دسینما په خونه ورننوتل .

ketabton.com - The Digital Library

نهم توك

(حبیبه) موهیره کړه ، رائحی اوس وګوروچه هغه څه حال لری ؟ ..

(حبیبه) هم د(حمید) په شانی په‌یو عجیبه کشمکش اخته وه .

مګر ښځی داسی یوخاصیت لری چه دخپلو احساساتو په‌پټولوکښ له نارینوٴ ځنی ډیری ښی دی ، اوپه دی کار کښ‌یوه‌خاصه‌ملکه لری . دښځی ضمیر دسمندر بی پایانه سیند غوندی دی چه‌ډیر طوفانونه، اوموجونه پخپلو ژورو ځایو کښ ساتی اوپه مخ ئی هیڅ یو اثر هم نه ښکاریږی په میاشتو او کلونو کښ رنځ با سی او زحمت په ځان آخلی ، مګر خپلی شوندی هم نه خوځوی . په راز رازتکلیفو او ر بدو باندی اخته وی ، ولی ددی له خولی ځنی یو آه هم نه وزی .

(حبیبه) هم عاشقه شوی وه . رنځ به ئی ویسته ، زړه به ئی له غمو څخه ډک و ، مګر په خوله‌به ئی هیڅ نه‌ویلی‌ځکه چه داهم‌وظیفه شناسه وه او له‌وفاداری اوامانت داری‌ځنی‌ډکه‌وه.

ketabton.com - The Digital Library

یولوی تفاوت او فرق ددی اود (حمید) په منځ کښې همغه تو پیر وه چه د ښځو او نارینوؤ په احساساتو کښې تل لیدلے شی ، او مونږ هم هغه ته پاس اشاره وکړله ، او تر اوسه پورې پوهان ددی تفاوت او تو پیر په حقیقت باندې نه دی پوه شوی او که کومه ورځ هغه تیاره تمکی باندې رڼا واوبزی ، او داتوره وریځ دبشر د ژوندون له مخې لرې کړے شی . خو البته انسانان به یوقدم نورهم دسعادت او د نیکبختی په لوري درومی .

اګر که په رومبنیو ورځو کښې دپرشانی نښې د (حبیبه)په خبره کښې لیدلی کیدلی، مګر دانښې به دومره نرۍ او ناخیزه وی ، چه هیڅوک به دهغو په لیدلو د هغې په هغه درد باندې چه ددی په زړه کښې پروت و، نه پوهیدل . او چې له دی څخه که به څوک د(حمید)حرکاتوته ځیر کیده ، نو به به یوهیده چه (حمید) د عشق لمبو و هلی دی .

هو! (حبیبه)هم د(حمید) په دردباندې اخته وه . اودهغه په شانې ځوان جه په خپل اسلامیت اوامانت اووفاباندې ټینګه ولاړه وی .

نه ! اوس ددی خبرې څخې مخ آړوو ، اوسینماته ګوروچه هلته څه پیښیږی .

هغه فلم چه په دی شپه ښودل کیده، دعاشقی یودپر ښائسته فلم وه ... یوه ګاډیوان وه ښائسته ښځه پخپلې ګاډۍ کښې کرا کړی وه اودسفرپه منځ کښې ګاډیوا ن په دی ښځه باندې عاشق شواوپههغه هوټل کښې چه دوی دشپې له مخې ښکته شوی وو ، دآشنائی تارئی ورسره وغزاوه ...

(حمید) ددی برخې په لیدلوسره بالکل بې واک شوی و، او دده احساسات داسې خوځیدلی و چه نږدی و هملته (حبیبه) ته لاس ور واچوی او په غیږ کښې ئی ونیسی لکه چه په دی قصد سره له خپل ځایه هم وخوځیدلومګرپه مجرددیاځیدلوددې فی الحاله ځراغونه بل شول اودی هم بیرته کیناستو .

ketabton.com - The Digital Library

د بلی پردی ترشروع کیدلو پوری ئی په ډیر دقت او په لږ لږ خبر (حبیبه) ته کتل مونږ نه پوهیږو چه په دی وخت کښ ئی څه خیال پلوونه پخول، اوپه کومو کومو چرتوکښ ډوب تللی و فقط دومره پوهیدی شو چه دلحامی توب تر تأثیر لاندی بالکل راغلی اونور گردشیان ئی هیرکړی و....

په دو همه پرده کښ دگادیوان معاشرت له هغی بنځی سره شروع شو او په بله شپه گادیوان دهغی بنځی په چپرکټ پریوتلی ددوی دناستی اودملاستی منظره لیدونکو ته بنکاره شوه اوورو سته له هغه لحنی بیاخراغونه بل شول .

بیاغلی لوستونکی پخپله تصور کولای شی چه دی مناظرو دلیدلو په وخت کښ به (حمید) په څه فکر کښ و ، اود (حبیبه) به څه احوال و. لکه چه دواړه لحلیان ، اودواړه عاشقان، اودواړه معشوقان واقع شوی و، اواوس هم څنگ په څنگ سره ناست دی، اوداسی پښتی ته هم گوری.

(حمید) بیچاره دشیطان په لاس کښ ولویده، اونور دمقاومت طاقت ورلحنی ورک شو، اوس دوظیفی دپیژندلو فکر ددده په زړه کښ هیڅ نه راتلو، اوغوښته ئی چه زړتر زړه دسینما له خونی څخه ووزی . مگر دو مره بی سده شوی وچه دخوزیدو طاقت ئی نه درلود ، نولاعلاجه همغسی ناست پاتی شو . بیا خراغونه مړه شول، او دسینما بله پرده بنکاره شوه په دی پرده کښ دعشق اوعاشقی بدی قصی، اوخرابی پښتی خرگندی شولی، اودگا ډیوان دهغی بد بختئ، اوتباهی مناظر وښودل شول چه هغه ته دشهوت پرستی، اوعاشقی له لاسه ورپښیمانی شوی و .

هغه بنځه ئی له لاسه ووتله هلك ئی په بخنی، اوواورو کښ مړه شو، دی پخپله درپه در، خاوری په سر شو، اوپای ئی معلوم نه شو، چه چیرته لاړ .

(حمید) په داسی چرتوکښ ډوب و ، چه دی برخی ته ئی هیڅ فکر هم نه و، اوهیڅ یوی ته ئی پام نشو اوکه ددی قصی آخرته ئی فکر شوی وی ، نوالبته ددده دعشق تود والی به لږ یده، او ددی هولناکه هنگامی په لیدلو سره به ئی ستر گی غړیدلی وی مگر هیهات او افسوس !

ketabton.com - The Digital Library

د سینما نمائش ختم شو ، او گرد خلق بهر ته ووتل. دوی هم له سینما څخه و و تل. خلق ډله ډله هر لوری ته تلل ، او دهر چا تلیو ارو چه زرکورته ورسیزی مگر دری دواړه و چ کلك یخیلولخایو کښ ولاړ وو . مونږ نه پوهیږو چه دوی په څه فکر کښ وو ؟ او کومه اراده ئی در لو د له ؟

لکه چه (حمید) دخپلو عواطفو په مقابل کښ مغلوب شوی وی ، او غواړی چه د خپل عشق اظهار (حبیبه) ته وکړی . مگر خجالت یا سی . که ربنتیا وویل شی هم ئی خجالت ویسته او هم ویریده .

ولی چه د (حبیبه) له زړه څخه خبر نه وه ، او نه پوهیده چه هغه هم پخپل زړه کښ دمینی په درد باندی اخته ده ، او دده د عشق سکروتی دهغی په زړه کښ هم لویدلی دی .

دویری سبب ئی داوه که څه وائی ، وروربه ئی دده په حال باندی خبر یزی ، اویته رازئی بنکاریږی ، اویه شرموباندی شرمیزی ، اوددی خبرئی له تصور څخه په لحان ریږدیده .

له بل لوری ئی غوښتل چه د خپلی معشوقی په نظر کښ خپل لحان پوانی ، او با فضیلته سړی غوندی بنکاره کاندی . نو ددی جهاتو په سبب ئی شوی کولی چه د خپل زړه پته خبره بنکاره کړی ، او برسیره په هغه زړه ئی نه غوښتله چه د خپل دوروربه نسبت سره خیانت وکړی ، او له گرد وڅخه بدتره داخبره وه چه که دی د خپل عشق ، او دمینی اظهار وکړی ، ممکن وه چه بیا به د (حبیبه) تش کټل هم لاس نه ورکوی ، او بیا به ددی دعشق په لهرکښ لازیات سوزی .

لنده داچه (حمید) په هغه حال کښ چه د نخورانو په شان لخکیده ، او له خپل حاله خبر نه و (حبیبه) سره خنگ په خنگ دکوریه لوری روان شه .

کورته ورسیدل (مجید) ددوی په انتظار کښ ناست و . سم دتیرو شیو له عادت سره نن شپه هم دهغوی دوډی په گډه سره وخوړله شوه ، اوچای وڅکل شو . ورو سته له هغه لحنی (حمید) خپلی خونی ته روان شو ، اوحال داو چه هغه په دغه شپه داسی بدحال در لود لکه چه په خوب کښ دکابوس عارضه ورپیښه شوی وی .

ketabton.com - The Digital Library

نیمه‌شپه‌تیر وه‌چه‌د (حمید) چینې پورته شوی ، ناری سوری به ګی وهلی (مجید) چه د (حمید) داشورا وماشورواوریده سمدلاسه د خپل خوب له‌ځایه پاځیدلی د (حمید) خونی ته ننووت او پښتنه‌ګی ورڅخه وکړله چه « هلکه‌ولی ژاړی ؟ » چه ګوری (حمید) پخپل چیر کټ باندی اوزدغږیدلی اوژړل‌ګی .

(مجید) چه‌تراوسه پورې خپل ورور په‌داسی یوحالت کښ نه‌و ، لیدلی ، له‌دی وضعیت څخه ډیر خفه، اومتعجب شو ، او راز راز پښتنې ګی له (حمید)څخه وکړل (حمید) دګردو سوالو په‌ځواب کښ ، اك همدا یوه خبره کوله : « نه پوهیزم ، په ځان نارو غ یم چتی چتی خوبونه وینم » . نوهرکله‌چه (مجید) ورباندی ډیراصرار وکولونو دځواب‌ګی ورته‌وو یلو : « مورمی په خوب کښ ولیده ، اودهمدی لپاره په‌ژړا شوم »

داخبره د (مجید) په زړه کښ کیناسته ، اوبیرته خپل کورته لاړ شو .

اګر که په دی وخت کښ (حبیبه) هم ورو ورو ژړل مګر (مجید) چه د خپل ورور په‌فکر کښ ډوب تللی و ددی ژړاته‌ګی پام ونشو ،اوکه ددی په ژړا باندی هم‌پوهیدلی وی . نوهر و مرو به له دی پټ روحی ارتباط څخه‌څه نه‌څه خبریده .

هو ! په رښتیاسره که داسی کیدلی چه (مجید) ددوی په‌اصلی درد باندی پوهید لی وی او ددوی داصلی رنځوری تشخیص دده له لاسه پوره کیدلی ، نو به داغم راوړونکی قصه داسی نه پیښیدله اوبل کوم شکل به ګی ځان ته غوره کړی و . مګر سړی څه ووائی :

د جهان حادثات پخپل تګ کښ ډیر چابك اوګړندی مشغول دی

اوده اود هغه اودنورو کسانوله خاطره دخپل دتګ لارنه چپوی

ځکه چه انسانان دجهان دحوادثو په مخ کښ کټ مټ داسی دی

ketabton.com - The Digital Library

لکه دونی هغه وچی او سپکی پانی چه دمنی په وخت کښ ئی باد هری خواته آلوزوی .

داشه تیره شوه ... (حمید) په بنکاره سره آرام و... مگر دننه په زړگی کښ ئی اندیښنه زیاته شوی وه .

غم او اندیښنه داسی یو خاصیت لری ، چه دهغو دزیاتوب اوشدت په وخت کښ غمجن سړی په بنکاره سره دیو آرام اوعاجز اوچوپ سړی په منزله بنکاریزی .

بلی ؛ دده دعشق اور ساعت په ساعت زیاتیده ، او ده دهغه په مقابل کښ غیرله صبر او طاقت څخه بله کومه وسیله نه درلودله .

انتظار ئی ویسته که کومه مناسبه موقع په لاس ورشی ، اودی دخپل دزړه پته خبره خپلی محبوبی (حبیبه) ته ورښکاره کړی . اودی په دی باندی نه پوهیده چه (حبیبه) لا له یخوا څخه خبره ده چه دهغی دمینی غبښی ډیره په ښه شانی دده دځگر په نښه لګیدلی دی .

دښځولطیف احساسات ، دبرق دجریان په شانی دنارینؤ دروح په تیاره کښ خپل نفوذ آچوی . او په یوه کتنه سره ددوی په عواطفو باندی پوهیږی ، مگر دښځو په حال باندی پوره پوهیدل ، او ددوی د پټتی مینی اوعواطفو څخه خبریدل په ، کلوکلو انسانانو ته ممکنه نه ده .

ketabton.com - The Digital Library

په همدی صورت سره ډیر وخت تیرشو ... دامتحان ورځی په سرورسید لی . (حمید) اړوچه دورځی له مخی له خپل کوره بهرته ووزی . اوددی یوالځی توب په وخت کښ (حبیبه)ته ممکنه وه، چه دخپلی خونی یو کنج کښ مخ په دیوال کښنی ، اوله خپل ځان سره ګړیدلی ، او له خپلو ستر ګوڅخه اوښکی توئی کړی .

د (حبیبه) له دی احساساتو اوعواطفو ځنی (چه پدی ورځو کښ ئی لری ، او دخپل دزړه دمینی په پته لمبه کښ سوزی ، اودمحبت دغم په کړائو کښ و ر یتیږی او تلیږی) ممکنه نه ده دمونږ قلم لکه چه ښائی هغسی څه ولیکلی شی ولی چه دښځی احساسات اوعواطف داسی مبهم اومرموز او نامعلومه وی ، چه هیڅوك دهغو د ښکارولو ، او په هغو د پوهیدلو توان نه لری .

دموسیقی په یوی سندری-دساز اوسرود په یومجلس- دیوی نقشی په ښائښت- دیوشعر په لطافت- دیوی منظری په وضعیت او بالاخر دیو دولت په سیاست باندی پوهیدل آسان دی ، مګر دیوی ښځی دزړه په اصلی مطلب باندی پوره پوهیدل ، له دغو ګردوڅخه خورا سخت اوګران کاردی .

ketabton.com - The Digital Library

لسم ټوک

نا خاپه (مجید) ته یوسفر ور پیښ شو اگر که د(حبیبه) اود(حمید) لری والی په ده باندی ډیر سخت تیرید ه ، مگر سره له دی دده تگ دیورسمی حکم په سبب سره ضروری و . ولی بیاهم خوشحال وچه دی په کور کښ لکه (حمید) غوندی یوسر پرست ودور لری چه دده په نشتوالی کښ ، به هغه له (حبیبه) سره وی ، اوهم به د کور سرپرستی په ښه شانی سره کولی شی او پدی واسطه به د کورله لوری پوره ډاډینه لری .

هغه دخپل دسفر لوازم تیار کړل . او په هغه ورځ چه له کوره وخوځیده (حمید) ئی ځان سره تر موټر خانی پوری بیولی . هلته ئی تر ډیره وخته پوری له هغه سره خبری اواتری وکولی اوله اوله تر آخره پوری ئی په خوخوځلی د (حبیبه) په نسبت سره په هغه باندی سپارښت وکولو .

(حمید) هم ده ته وعده او ډاډینه ورکړه چه له دی لوری بالکل خاطر جمع اوسه چه زه به زیات کوشش وکړم ترخو چه (حبیبه) خفه نشی او (ستاسو نشتوالی په هغی باندی څه تأثیر ونکړی) .

د دنیا لوبی په دی اندازه سره خندا راو ستونکی او په عین حال کښ ژړوونکی هم دی چه انسان د هغو په مقابل کښ نه پوهیزی چه وخاندی ؟ اوکه وژاړی ؟

(مجید) په سفر روان شو . او وروستنی خبره ئی همداوه چه « روکیه ! په حبیبه باندی د باید ډیر پام وی ، حمیده ! » . (حمید) هم د ده په ځواب کښ په ډاډینه ښو نکی لهجه سره وویل : « ددی له لوری څه پوره خاطر جمع اوسه مجید لالا » .

ketabton.com - The Digital Library

څه و خت چه مو تر راهی شو (حمید) تر ډیره وخته پوری هلته ولاړو، اوبه موتر پسی او دهغه دوړو ته ئی کتل ، هر کله چه دهغه موتر گردی علامی او نښی دده له ستر گو څخه پناه شولی، نو دی هم په ډیره هوسائی اومتانت سره له موتر خانی څخه وخوځید و . دی چیرته لځی؟ معلوم نه دی ! په څه فکر و کښ ډوب تللی دی؟ خدایزده ! . . .

نن له گهیځه تر بیگا پوری (حبیبه) په کور کښ یو الجی وه ، ډیر وخت له شپی لخنی تیر و چه (حمید) کور ته را غی ، او برابر خپلی خو نی ته ننووت ، ډوډی ئی نه وه خوړ لی ، همغسی وزی پخپل چپر کټ با ندی پر یووت .

نیمه شپه وه چه دپښو څپه هار ئی تر غوږه شو . ستر گی ئی چه وغړ و لی کتل ئی چه ډیـوه بلیږی ، اودده په میز باندی کوندری غو ړ یدلی ، او ډوډی ور با ندی پرته ده مگر هڅوک هلته نه ښکا ریده .

ا ول کښ (حبیبه) داسی انتظار لر لو چه (حمید) به د نهاری دپاره نن شپه هم لکه نور کله زما کور ته را لځی ، نو هر کله ئی ولیده چه هغه برابر پخپله خونه کښ ننووت ، نو دی هم ز غرد و شو کو لی چه هغه ته غږ وکړی . څولځلی د ده د دروازی تر شا راغله ، او بیرته ستنه شو ه .

(حبیبه) خوارو ویریده ، او پوهیده چه د (حمید) په زړه کښ څه شیان تیر یږی ، او بیم ئی خوړلو چه ناڅاپه دهغه د عشق مخزن ، او دمینی ذخیره زما د یو الجی لیدلو په سبب لکه با روت غو ندی اوروانځلی ، اوهغه تر خپل نفوذ لا ندی راته وړی .

له بل لوری پو هیده چه (حمید) ډوډی نه ده خوړلی . که ئی ناری ورپسی وهلی له ده څخه ویریده. او کله ئی پر یښوده چه همغسی نهار څملی دا هم ورته ډیره بده، ښکار یده .

(حبیبه) په همدی تشویش ، او اندیښنه کښ تر نیمی شپی پوری بخته وه . آخر ته ئی دا په فکر

ketabton.com - The Digital Library

کښ تېر شو چه د (حمید) دودی تو ده، اونیاره کړی او ورځی وډی هلته ځی ورته پرېښ دی او دودی ځی په پټوس کښ اخیستی ورو ورو ورغلی دده دخونی دوره تر شاو دریده، او غوږ ئی کېښود، هېڅ یو غږ ئی وانه وریده، نو ځی ورو ورو پرانیتای وځی لید او چه (حمید) پخپل چرکټ باندی غریدلی دی. نو داهم سوکه سوکه ورغلی، دودی ځی په میز باندی کېښودله اوخراغ ئی ولګولو، او وروسته له هغه ځنی هغسی چه راغلی وه، بېرته ووتله، اود بېرته تګ په وخت کښ (حمید) ددی دپښو شرپ هاری اوریدلی، له خوبه ویښ شو، او دودی ځی په میز باندی ولیدله.

(حمید) له خپل ځایه پاځید و، اولا سونه ځی وښځلی، بسم الله ئی و یلی په دودی باندی کېناست و، مګر اشتهائی بنده وه، او هېڅ شی ته ئی زړه نه کیده، او یو سخت در نبت ئی پخپلو ماغزو کښ لیدلو. لکه چه دخونی دچت تو ل لنګر دده په سر باندی آ چولی شوی وی یو نری غږ لکه دغومسی بنګهار دده په غوږو کښ راننی، او له هغه سره ئی یو درد ناک احساس پخپل زړه کښ بیاموندلو.

لږ شیبه دده دودی په میز باندی فرار کېناست، او وروسته ئی فاشغ، او پنجه وا خښتل او غوښته ئی چه په خوراك شروع وکړی یو ناخاپی ئی دا فکر په ماغز و کښ ولویدو، چه دا دودی (حبیبه) پخ کړی ده، او دا لوخی دلته (حبیبه) اینبی دی، او دا خراغ (حبیبه) لګولی دی په مجرد ددی خبا لانو گرزیدل ددده په زړه کښ فی الحال له ځایه پاځید و، اوله خونی ځنی بهر شو په کفش کن کښ لږ شیبه ودریده و په خیال کښ ئی ور تللو چه دشپی په تیاره کښ ددده جې چاپیر له وهمی اشیاحو ځنی ډك دی خو دفیقی ئی دکور په حویلی کښ دی خوا او همی خوا تګ اوراتګ کاوه هر کله به چه د (حبیبه) دخونی شانه ورتلو، هغه به لر خه درېده، اوورو سته له هغه به ئی لید ل چه یو غیبی لاس و تلی، دی تېل و هی چه له دی ځایه درومه اولی دریدلی ئی؟ دا کار شو ځلی پر له پسی په عمل را غی.

ketabton.com - The Digital Library

(حمید) له ډیر قدم وهلو څخه ستړی شو ، او سر ئی په ګرزیدا راغی ګرد جهان ئی په سترګو کښ تیه تیا ر ه شو ز ړ ئی په غږ ځنګ شو . ځنګنو نه ئی په ریږدیدا شول په غوږ و کښ ئی هم هغه د غو مبسی د بنګها ر آ وا ز راتلو نو ځکه د حو ض په خو ا کښ کینا ست او وئی لید ه چه د شیی په نیمه رو ښا نه ر نا کښ د تالاب ا و به ر ریږی لکه چه د ا نسا نا نو د هغه نا پایدار ، او ریږ د یدو نکسی خبا لاتو پیښی کوی چه هغوی شپه او و ر ځ په کښ مصر و ف د ی .

یو ځلی هم له هغه بنګها ری څخه یو آواز جوړ شو د خپل د څټ په لو ری ئی وکتل او ښه په ځیر شو ، نو ور ته ښکا ره شوه چه (حبیبه) ژاړی په تلوار سر ه ددی د خو نی په لوری روان شو ، وئی لید ل چه ورځی پوری و . ودریده و . وئی غوښتل چه بیرته وګرځی مګر په پښو کښ ئی زور نه و ؛ اونه ئی شوی کو لای چه له هغه ځا یه وخو ځیږی ، نو لږ ډ یل ئی وکو لو . د ژ ړ ا غږ ز یا ت شو .

په د ی و خت کښ چه د ه باند ی د تشویش او د اضطراب حالت و . لکه چه یونوی اور دده په وجود کښ بل شو . نه پوهیږو چه په د ی وخت کښ په څه فکر او کښ ډ و ب تللی و ، او په دی خطر نا که شیه کښ څه راز ی مبهم خیالات دده په زړه کښ تیریدل .

ښائی چه ددی قضیی په شاؤ خوا کښ به ئی فکر چلو لوا و ویل به ئی چه (حبیبه) هم . . .

ښائی چه پوهیدلی به وی چه هغه هم . . .

نو دوره ترشاودریدو ، او زورئی ور باندی و وا هه ، و ر خلا ص شو ، او دی د ننه په منډه ننووت . (حبیبه) ئی په تیاره غونی کښ ولیدله چه په خپل چپر کټ باند ی ملا ستنه د ه . یووارې ددده په زړه کښ یو سخت ار تعاش او غور ځنګ پیدا شو ، غاښونه ئی یوپه بل سر ه لګیدل له سر ه تر پښو پوری ریګدیده ، قوت ئی نه وچه خپله پښه ددی په چپر کټ باندی پورته کړی ، نو ئی وغوښته چه چپر کټ سره جګت په ګوندو کښی . اولا سونه ئی د (حبیبه)

ketabton.com - The Digital Library


یه لوری اوزده کړی هنه پخیلی عیز کښ ونسی .

(حبیبه) باندی چه یه عین هغی ژړا کښ اوس دخوب دمومبی شومی پریښانی راغلی ده د خپلی خونی د دروازی لهپرانیتلو څخه ئی یوه سخته جټکه اوترا وخوړله . لکه چه دی وته پیژاندلو . او یوه سخته کړیکه ئی وکړله او لهپره ریاته وویښه له .

(حمید) هم له دی کړیکی څخی لهپره ترا وخوړله ، او سمدلاسه ئی خوبله دشایه خوا آخستی ، اویاد: یدلی قصدئی وکاوه چه د (حبیبه) ترخوا یه چپرکټ باندی کښنا ستلی د مدهوشی او سکر یه حالت کښ چه دعشق له شرابو څخه ورته پښه شوی وه (حبیبه) ته لاس وغزوی او پخپلی غیز کښ ئی ونیسی .

عین یه همدی حالت کښ یه خورا پریشانی اواندیښنی سره ئی ولیدلو چه ددی دخونی یه نیمه رڼاتیاره کښ بوسړی دده یه نظر کښ راغی چه د (حبیبه) د چپرکټ یه هنه خوا دیوال سره ولاړدی چه پښه ورته لهپره شواو دقت ئی وکړلو ، نوئی وپیژانده چه دده مشر ورور (مجید) هلته وچ کلك ولاړدی.

(حمید) دخپل دوروره لهپره ندلو سره یوسته یوه سخته کړیکه کړی وئی ویل « الله اکبر » اوبیهوښه شوی هلته لکه یو مړی ولویده . . .



ketabton.com - The Digital Library

یوولسم توك

دلمر وړ نګی له کړ کیو ځنی په کوته کښ لویدلی وی، چه (حمید) له خوبه یا بیهوښی ځنی ویښ شو (حمید) په دی رنا کښ خپلی ستر گی پرانیتلی، ډیروخت گی لبونیا نو غوندی دی خوا، اوهغی خواته کتل، یوه الماری گی ولیده چه کتابونه په کښ اینبی و، په بلی خوا کښ گی یوه لویه هینداره اودوه پردی ولیدلی اوپه بل لوری کښ گی یو میز چه په شاؤ خوا کښ گی څوچوکی اینبی وی، تر نظره شولی.

(حمید) داشیان گرد له خپل نظره تیر کړی همدا چه دافکر ده ته ورغی چه دی ولی له خپل چپر کښه دلته لویدلی دی او له خپلی خونی ځنی څرنګه دلته رسیدلی دی. او دپرونی شپی گردی خبری گی یوه په یو په یادشولی سخته ستومانی گی په ماغز و کښ ورښکاره شوه، اوبیائی چرت واهه لکه چه ما به پرون شپه چتی خوبونه لیدلی وی. دی همغسی پخپل ځای باندی پروت و، اودپورته کیدو توان په کښ نه و.

لږ لږ د (حمید) فکر په ځای راتلو اودتیری شپی خبری په واضح صورت سره په یادورتلی اویخپل ځان باندی به ویریده، او لړزیده.

دی فکر چه دده ورور دده په کمین کښ و، از پرون شپه ورته پټ شوی و، چه دده دخیانت منظره له خپلی ښځی سره پخپلو سترګو وینی، او دده ددی نا کامه عشقی سرآ خر رسوائی ته ورسیدلو، ډیر سخت تاثیر گی ورباندی وکړلو، او له سره تر پښو پورې لمبی ورباندی بلی شوی.

په دی آرزو کښ و که حضرت عزرائیل علیه السلام ورته راغلی او سائلی تری آ خستی اوسمدلاسه مړ شی، دا به ډیره ورته ښه وی، له دی څخه چه بیا خپل مشر ورور سره مخامخ شی.

ketabton.com - The Digital Library

په تیره بیاچه دخپل دوروز محبتونه او شفقتونه او اوربنه او مهربانی یو په یو ډډه په مخ کښې دریده او دهغو تولو په مقابل کښې ئې خپل داناوړه حرکت ته فکر کاوه ، نو ډیر زیات به ئې په خپل ځان باندې لعنتي او ملامتي ویله ، گویا د گرمتوب یولوی بار ډډه په اوږو باندې بارو . او ندامت او انفعال احساس به ، زیات آزار ورکاوه .

مگر آیا اوس داپښیمانی او دا انفعال او دا ندامت ورته څه فائده رسوی ، چه کار له کاره تیرشویدی ، او وروڑئی ډډه په دی بدکاریوهیدلی دی او ډډه دخیانت نندارهٔ ئې پخپلو سترگو سره کړی ده . هرخومره چه (حمید) فکر کاوه د تیښتی لارئی نه شوی پیدا کولی . اونه دی لعنت ویلو او ملامت کولو څخې هیڅ یوه فائده نه ورکړیده . ولی چه اوښی ماڼه او غوړی توئی شوی وه . او ډډه در سوائی لکن له بامه لویدلی و .

یعنی ډډه وروړه ، وروسته له دی څخې چه ډډه له عاشقی څخې خبرسویدی ، په داسی یوچل سره د شیی له څخې ډډه ته پته شویدی ، تردی چه دی ئې ولیده چه د ډډه د ښځی خونی تنیه نمه شه کښې ننووت ، اودهغې چپرکټ ته ورنژدی شوا زپه‌دی صورت سره ئې ډډه له پټو خبرو څخې ځان خبرکړلو ! نواوس زه څه وکړم ؟ اوخه خاوری په سرباد کړم ؟

دا رازی خیالات د (حمید) په مغزوکښې تیریدل . او دی د هغه غرق شوی سړی په شانی ښکاریده . چه‌په‌اوبوکښې‌ډوب شوی وی . او د ځان د خلاصی او د بهروتو لپاره لاس اوپښې غورځوی . سره له دی چه دی نه پوهیدو چه داگرد فکرونه چتی‌اوپیکاره‌دی.

بل‌یو فکر ډډه په زړه‌کښې‌وگرزیدو. نوزر پاځیدو . اوخپل سرئی ښکته آچولی لکه غل د (حبیبه) له خونی څخه په منډه وتلی خپلی خونی‌ته ننووت اوهلته‌ئی خپل کالی اودریشی واغوستله ،اوپه‌داسی یوشانی چه هیڅوک‌ئی ونه وینی ، ورو ورو پته له انگړ څخې په‌داسی

ketabton.com - The Digital Library

حال ئې چه سرګی تپ آچولی و ، بهرته ووت. وروسته له دی چه کوڅی ته ورسید و نوپه منډو ولی شروع کړی تر یوه حده پورې ئې په تلیوار سره ځان ورساوه نو هلته دریدلی ، خپله کلمه ئې لوستلی ، د هوسائی نفس ئې له خپله تمره ځنی وویست . مګر ترشا به ئې یې سرته کتل چه څوك ورپسی شته اوله نه ؟

هر کله چه په دی خبری باندی ئې دا ډاډینه پیدا شوه چه د ده پسی څوك نه ځغلی او ده ته د هیڅا پام نه دی ، نو شکر ئې وویسته . او بیا دغه په شان د لا ر ی په یوه خوا کښ روان شو .

همد ا چه تلو نکی به په ځنه ور ننل ، ځان به ئې تری ګوښه کاوه . تر دی چه مو تر خانی ته ور سید . او هلته په زور و فکرو کښ و لو یده .

لکه چه (حمید) د تښتی فکر په سر کښ لری ، اوغو ارې چه د فرار په ذریعه ځن له خپل کور او ورور ځنی پټ کاندی . مګر په دی باندی نه پوهیدو چه چیر ته لاړ شی ؟ .

فقط دا خبره ئې په زړه کښ ټینګه کړی وه . چه وروسته لدی ځنی نه ښائی چه خپل ورورته ور په مخ شی . او لدی څخه زیات بل کوم یو مقصد ئې په خپل زړه کښ نه لرلو . مګر د دی خبری له تصور څخه چه دی به له خپل ښار ځنی لری لویدلی د مسافری او غریبی په مصیبتو اوربړو باندی آخته کیږی ، ډیر وبر یږده .

نا خاپه یو غږ ئې له ورا څخه واوریده . چه ور ته ځیر شو وئې کتل چه د ا ګی دی . دیستی موزع ده ته ویل : « حمیده ! چیری ګرځی . زه دستاسو کور ته تللی وم . تاسو هلته نه وی . »

د د ا ګ خانی چتی رسو رنګی د دی جملی له ویلو ځنی وروسته له خپل بکسه ځنی د ده دورور

ketabton.com - The Digital Library

خط وویستلو ، چه ده ته ئی له لری یو بنار لخنی په همغه پرون ورځ آستولی و. او نن گهڅ دلته رسیدلی دی .او وروسته لدی لخنی دا ګی خپل در سید اتو کتاب ده ته وراندی کړی ورته وئی ویل چه « آغا ! ددی خط له ر سیدلو څخه دلته لاس لیك وکړه .

« حمید » ددی خط په لیدلو سره هك پك اوحق حیران پاتی شوی دډاکخانی په کتاب کښ ئی امضا و کړله .

پاکټ ئی واخیست عنوان ئی چه واوست وپوهیده چه دده دور ور پخطر ده لیکلی شوی دی. یو سخت اوسیلی ئی له تیره لخنی وویست او پاکټ ئی وسپړله اووئی لوستلو اوو یو هیدو چه ورورئی په اول منزل کښ همدا چه له موټره بنکته شوی دی دده اود (حبیبه) ډډاډینی لپاره ئی داخط لیکلی دی. اوبه پسه کښ ئی چالان کړی دی .

داخطائی خوځلی په خورا دقت سره ولوستلو ، اووئی لیدلو چه په هغه کښ د (حبیبه) هیر سپارښتنی شوی و او داهم په کښ لیکلی شوی و چه باید په نورو کورنی کار و باندی هم زیات پام ولرله و لری او مخصوصا (حبیبه) د تل تر نظر لاندی لری چه خپه درلخنی ژشی .

(حمید) له دی اوبی لخنی هیڅ شی باندی ونه پوهیدو کاغذئی بیا په هیر دقت سره ولوست اولاندی باندی ئی کړ ، او دده پاکټ ته هم هیر لخیر شووئی لیده چه دهغه بنار ډډاکخانی دباطل کولو مهرئی خوندی دی چه له هغه لخایه داخط استولی شوی دی .

بیر تقدیر سره وروسته له لیدلو ددی خط لخنی (حمید) له خپلی تبښتی اوفرار لخنی ستون شو اوله موټر خانی لخنی دبنار په اوری وخوزید اوور ځ ئی چتی په دی خواا و هغه خواګرزیدو سره تیره کړله .

ketabton.com - The Digital Library

نژدی تیاره ماښام وچه (حمید) سنړی ستومانه وزی تیزی ییرته کورته ورسید . دکورپه خواکښ بیاشك ورته پیداشو، نه چه خپل کورته ورننوزی او خپل ورور سره مخامخ شی .

بیائی همغه یا کټ له خپل جیب څخه وویست (چه له صبار ائیسی ئی هغه له سل ځلی ځنی زیات لوستی و) اوبیائی ولوست اودا ګڼانی مهروته ئی دقت وکولو اوبیائی کلك پخیلومنګلو کښ نیولی هلته ودریده، اویه یوژور چرت کښ پریوت مګر سره له زیات فکرکولو هم په دی معما باندی هیڅ و نه پوهید و .

نژدی نیمه شپه وه چه دخپل انګړ دروازی ټرشا ودریده، اویه ډیره و یره او احتیاط سره ئی دروازه ورووهله .

لکه چه (حبیبه) دده په انتظارکښ غوږپه آوازوه زرګی ورپرانیت اوڅان ئی یوخوانیولی په یونری ریږدیدونکی غږ سره ئی وپوښتیدوچه تاسو چیری و است چه دا ګی تاسو پسی ګرزیده اود (مجید) خطائی دسناسویه نوم راوړی و؟ .

(حمید) ددی خبری په آوریدلو سره آرام شو . ولی بیائی هم زړه ډاډه نه و او هغه شوم خیال دده په ماغزو ئی هم غښی ناست و اوداسی تصورئی کاوه چه دالو به دده درسوائی اومسخرګی لپاره روغه شوی ده .

د (حبیبه) له څه تیر شوی برابر خپل کورته ور ننووت . لږوخت وروسته (حبیبه) ده ته ډوډی راوړله او دده په مخ کښ ئی کیښوده، او دستی بهرووته . (حمید) ډوډی وخوړله او په بستر باندی پریووت ، مګر ترصبا پوری ئی په ستر ګو کښ خوب نه و .

ketabton.com - The Digital Library

د ولسم ټوک

لمر ختلی و ، چه (حمید) په داسی حال کښ چه دیر پریشان او سرگردان اوسنړی او ستومانه و ، له خپل کور څخه ووت .

د (حبیبه) په خونه کښ هیڅوک نه و ، ولی چه (حبیبه) بهر په حویلی کښ وه او له گډیځه رائیسی په خپل کورنی کار و کښ بخته وه ولی چه نن خپل پلار کره تلله . (حمید) دهغی خونی ته ورننووت او هرشی ئی په خو رادقت سره له خپل نظر څخه تیر کړل .

یو ناڅا په له خورا تعجب په چیغو گډه شو ځکه چه دامشکله معما چه دده په ماغز و کښ ئی له خوشپو او ورځو څخه رائیسی ځای نیولی و ، پخپله حل شوه .

یعنی دده دورور یو خورا لوی قد ښوونکی عکس د (حبیبه) دچیر کټ تر خوا دیوال سره ولاړ و .

هو ! دا څهره د (حمید) وه چه دتګ په وخت کښ ئی د (حبیبه) په خواهش سره هغه اخیستی اوپه یوښائسته چوکاټ کښ ئی نیولی وه (حمید) خوار چه په هغه شیه ډیر ویریدلی و غلت ئی همدا و ، چه دخپل ورور په دی قد نما عکس باندی ئی ستړگی لګیدلی وی .

په رښتیا سره چه خپال پر وز ماغزه تل داضطراب او دپریشانی په وخت کښ دخپال او دحقیقت په منځ کښ فرق نشی کولای . لکه چه په (حمید) باندی هم همدا توقه شوی وه .

یعنی (حمید) ددوی له عاشقی او پټو خبرو لخنی هیڅ خبر نه و ، او هغه پخپل سفر کښ مصروف و . داشیان فقط د (حمید) واهمی یاویری له خپل ځانه روغ کړی و . اودا پته مینه هم همغسی لکه چه وه ، پاتی وه او لوښی نه ومات شوی ، بلکه روع اوغوږی هم همغسی موجود وه او دد وی دعاشقی اسرارلا چاته ښکاره شوی نه وه . نوهر کله چه هغه چتی خپال او واهمه (چه ددی گردو و خښتو او ویرو سبب گرزیدلی وه) له منځه ورکه شوه ، بیاهغه اور د (حمید) په سرباندی بل شو اوله دی خبری څخه چه دی غولیدلی و ، او وروڼی لادده په دی مین توب باندی خبر شوی نه دی ، ډیر زیات خو شحال شو . او دهغه مارغه په شان چه له لوړی لخنی

ketabton.com - The Digital Library

خلاص شوی وی . دانگر په حویلی کښ دی خوا ، او هغه خوا گرزیده ، او د خوشحالی او د نشاط په جوش کښ به داسی اوضاع له ده څخه لیده کیده لکه چه بیرته د هلکتوب دوری ته تللی وی.

په رښتیا سره چه (حمید) له دیری خوشحالی څخی خیل سر له پښو څخی نشوای پیژندلی ، او په او چت غږ سره به گی سندری ویلی . کله به دننه کورته نښوتلو او بیا به د حویلی په چپ اوچاپیر کښ گرزیده ، لږ شیبه به د حوض خوا کښ کیناستلی خپل لاسونه او مخ اوښی به گی وینځلی . او بیا به گی باغچه کښ قدم واهه گلان به ئی شکول ، ونو سره به گی غیږی ورکولی ورو سته له دی څخه به بیا کورته ورننوتلو ، کله به گی میز اوچوکی او کتابونه په یوکنج کښ وطاروا او بیا به ئی هغه ترتیبو نه رنگول په بل کنج کښ به گی همغسی ترتیبات روغول .

د اگر د حرکات ، او لوبی چه د (حمید) له لوری لیدلی کیدلی د خوشحالی ، او نشاط نښی ، او آثار و .

گویا چه (حمید) خوار دډی ژباتی خوشحالی ، او نشاط په مقابل کښ مغلوب شوی و او د هغه د تحمل طاقت ئی نه درلود .

هو که خو شبختی هم لکه بدبختی له اندازی څخی تیره شی د زحمت او د ربړی موجب گرزی ، او له همدی جهته وائی چه په هر شی کښ اندازه ساتل او میانه روی خورا ښه ده .

په دی وخت کښ (حمید) داسی یو دوست ، او یار ته اړوه چه د خپل زړه ددی خوشحالی اندازه ورته ووائی ، او خپل هغه موهوم خپگان چه خو مو ده یخوا چتی پتی ورته پښ شوی و ، او اوس هغه خپگان په دی خوشحالی سره بدل شوی دی ورته ښکاره کړی .

دایو طبیعی امر دی چه انسانان د خوشحالی او د خپگان په وخت کښ غږ اډی چه له نورو سره کښینی ، او پاڅی ، او خبری ، او

ketabton.com - The Digital Library

اثری سره وکوی او یو او بل سره و گډیزی، او خپل غم سپك او خوشحالی په هغه سره زیاته کړی. گویا په غم او بنادی کښ دخلقو ناسته او ولاړه په همدی فلسفه باندی بناده.

و مو ویل چه (حمید) غوښته چه ددی خوشحالی خپل مرا تب چا ته ور ښکاره کړی مگر افسوس چه نن په کورکښ هیڅوك نه و او (حبیبه) هم خپل پلار کره تللی وه او دا یواځی توب او دی خوشحالی په (حمید) باندی زښت زیات اثر غورځولی و، او هیڅ نه پوهیده چه څه وکړی تو پخپل ځای به آرام نه کیناسته، او دایونیانو په ټانی به دی خوا، او هغی خوا گرزیده، دیوال سره به ښیغ درېده، او دچمن په مینځ به پراخ لویده، او په خیابانو باندی به ئی سر گڼډی وهلی، او دوښو په څانگو به ئی تاو نه خوړل، او خپل ځان سره به پرته پرته غږیده، او په او چته سره به گټ گټ خندیده.

همسایگان چه د (مجید) د مسافری خبره نه وه، او یو هیدل چه (حبیبه) او (حمید) هم په کورکښ دی. اول داخبری، او خندانه چند ا ن منو جبه نه و، نو هر کله چه سور ماشور زیات شو گرد سره په بادو باندی غونډه شوی وئی لیدل چه په کورکښ پرته له (حمیده) بل هیڅوك نه شته، او (حمید) هم پخپلو پرتو خبرو کښ داسی تود راغلی دی چه آسمان، او ځمکه نه پوژنی، او هیڅ ته ئی پام هم نشته.

نو له همدی ځایه و چه ور وسته د (مجید) له راتلگ څخه، گرد و همسایگانو ور ته و ویل چه په پلانی ورځ چه نه ته، او نه د کلی په کورکښ وه (حمید) ایونی شوی و آیا په رښتیا سره (حمید) په هغه ورځ ایونی شوی نه و؟

ketabton.com - The Digital Library

دیارلسم ټوک

(حمید) رنځورشو، اویه بسترکښ ولویده (حبیبه) به دده خدمت کاوه ، دوابه ئی ورکوله،اویارپزانه به ئی ورته پخوله . مگرله ده سره به نزدی نه کښناسته ، اوورو سته له کښنودو ددواء ، اویارپزانسی څخه به سمدلاسه بیرته تلله ، او لپاره ددی چه نبایدرنځور په کورکښ یوالجی وی ، نویوی بنځی ته ئی لههمسایگانوڅخی دده دخدمت، اوباخبری لپاره بلنه وکړله ، او بنائی چه ددی بلنی په نسبت به بل کوم مقصدهم ددی ترنظرلاندی و .

په هرصورت سره وروسته له راتلودهغی بنځی څخه دوی په کورکښ سره یوالجی نه وو . شپی اوورځی تیریدل اوورووروو (حمید) هم مخ په روغتیا کښنود ، اویه عین همدی ورځوکښ چه (حمید) لږڅه ښه شوی و (مجید) هم له خپل سفرڅخه بیرته ورسیدو .

اوس نوکارونه لکه یخوا غوندی بیاحاری شول ، اوددوی ناستی او ولاړی هم هغه عادی صورت ونیولو .

امتحان شروع شو (حمید) دورځی له ځی بهرته دروميی ، خوك نه یو هیده چه دی چیرته ځی ؟ اویه څه کار باندی بخت دی ؟

(مجید) خیال کاوه چه دده وروریه امتحان ورکولو سره مشغول دی ، او بنا ئی چه همداسی به هم وی، وبه گورو . ولی چه دافضیه و روسته لدینه څرگنديزی ، اودشپی اودورځی په تیریدو سره به گردشیان ښکاره اود تو لوکارو له ځی ځنی به پرده لری شی .

ورو ورو دپښی مینی دبحران دوره پای ته ورسیده ، یعنی هغه لومبنی هیجانات اوشورماشور اوتلوسه ورکه شوله .

هو ! اوردبلید و په شروع کښ له نورولوگیو سره گډ اوتباردښکاری . په هره اندازه سره چه دهغه لوگی کمیزی ، اورمخ په ډنانگی زدی اوتودښت ئی زیاتیزی . همدارازی دمینی لمبه هم

ketabton.com - The Digital Library

په پرونیو ورځو کښې مرموزه اوډیه وی ، اوګی اوتیاره ګی ریاته وی . د شمی اودورځی په تیریدو سره دهغه هیجان اوشورماشور لږ یږی مګر قوت اوزورګی ډیرزیاتیږی . اویه دی وخت کښې خوارمین پخپل زړګی کښې د داسی یوسخت درد احساس کوی چه دلږه د جنجلو په شان لرزوونکی او درد ښیو نکی وی . غواړی چه چیغې ووهی مګر نفس ګی کوتاهی کوی . اووائی چه خپل کمال خبری اومخ په چول اوبیابان کیږدی ، مګرجرئت ورته پاتی نه وی . په یوی بلی لمبی کښې دده ګردوجود سوزی ، اودننه په زړه کښې ګی دسکروټو سورانګارپلیږی تعجب لایه دی کښې دی چه دی لاغواړی چه په همدغو لمبوکښې د سوزی اودهغه زړه د په همدی سکروټو باندی وریتیږی . اونه غواړی چه یوساعت داسوی اوداتکلیف لاهغه څخه لری شی . اوکه وغواړی هم امکان ګی نشته چه ورځینی هغه لمبه اوانګار ورک شی .

دی یتی ښیی خپله دادوره هم پای ته رسوله اویه دی دوره کښې هم (حمید) اوهم (حمیده) دواړه سره سمرزیدلی او یو له بل څخه لری په سره اتکل ریاضی ګړیدلی مګر غیږه ګی یه یوورته ګوالو .

دورځی له څخی په (حمید) له ګوره پیرته وتلو . دشپی له څخی یه هم ډیر ناوخته کورته راستواو کله کله به ګی شپی هم پیرتیږولی . اویه یله شپه به ګی چه ورور پښتنه ورځنی ګوله چه هلکه پرون شپه ولی کورته نوی راغلی ؟ چیرته وی ؟ هغه به سمدلاسه داپه خواب کښې ورته ویل چه دخپل یو مکتبی ملګری په کور کښې په علمی خبرو او اترو سره مشغول وم . (حمید) په دغو اصولی خواب په مقابل کښې هیڅ نه شو ویلی ولی چه دامتحان نژدی وه ، او ګرد حالیان په داسی فرصت کښې همدا عادت لری چه یو بل سره ځینی اویه علمی او فنی خبرو کښې سره مباحثه کوی او دامتحان مقدمات سره ګوالی .

مګر دا به داخبره تحقیق طلبه وه چه آیا (حمید) پخپل دی خواب کښې ریښتو نکی دی ؟ آیا هغه په رښتیا سره دعلمی خبرو لپاره دشپی پرپښی لیږی ؟ داخبره به وروسه څرګندیږی .

ketabton.com - The Digital Library

هر کله چه دمین لری والی ، او دعاشق فراق ، دمینی لمبه زیاتوی ، او دعشق سکروتی لا تازه کوی ، نو د (حبیبه) هم دعشق درد اودمینی سوی په دی ورځو کښی چه (حمید) سره لږ کتنه ، او ډیر لږ به‌ئی له هغه سره ملاقات کاوه ، زیاتیده . مگر سره له دی درداو سوی نسبت یخواته په ظاهر کښی لږ آرامه ښکاریده .

زمونږ په دی داستان کښی په یوه خبره باندی لاتراوسه پوری تیاره پرته ده ، نوښائی چه دلته په هغه باندی لږغه ږنا واچوو . ولی چه تاسوهم خواه مخواه دی نقطی‌ته متوجه یاست او تراوسه پوری خدایزده چه څوځلی به دتاسو په زړه کښی داخبره تیره شو یوی ؟ . آیا (حبیبه) عاشقه نه وه ؟

ولی (حبیبه) هم مینه شوی وه ! اودعشق په سکروتو باندی کړیده ! !

نوډیر ښه ! (حبیبه) ولی دخپل دمین توب علامی نه ښکاره ولی ؟ . . .

ځکه چه ډیری همدادی چه اوس ئی مونږ لږغه روښانه وو .

(حبیبه) وروسه لدی خبره چه دخپلواحساساتو په مقابل کښی مغلوبه شوه ، اوغوښتل ئی چه دخپلی مینی اودعشق علامی (حمید) ته ښکاره کړی ، فقط دهمدې خبری لپاره د خپل دعشق له ښکارولو لږغی ستنه کیده ، چه دا پوهیده چه (حمید) هم په همدی درد باندی آخته دی و بهتره همداده چه دوه مبنی اقدام اومیلان دهغه له اوری شروع شی ، ترڅوچه دمماغزیتاواحترام ذهنه په زړه کښی زیات وی . مگر د (حبیبه) دا انتظار تر اوسه پورې ب ځکه ی تیجی پاتی دی او (حمید) سره له دی چه د دی د عشق داور په لمبو کښی سوزیدد ، مگر په دی فکر کښی ئی عملا تراوسه پوری هیڅ اقدام نه دی کړی ، چه د خپل مین توب اظهار (حبیبه) ته وکړی . همدارازی (حبیبه) هم څوځلی دمین توب نرتاثیر لاندی راغلی عزم اوتصمیم اونیت په ځی کاوه چه دخپل دزړه خبره (حمید) ته ورښکاره کړی مگر دلطافت غرور ، اودزاکت شعور ، اودلوینی اودمعشوقیت دستوردی تر اسره نه پرې نوله چه په دی اظهار کښی اول پلادا زغږدو کړی .

ketabton.com - The Digital Library

ښځه یو عجیبه مخلوق دی . که ئی له‌ډیری مینې سره ، تر سترګو لې پورې هم رسیدلی وی، بیا هم له خپل غرور او تکبر څخه لاس نه آخلی. ځان کندن به‌کوی ، مګر نه غواړی چه‌دد ی د لو ینې په تاداوکښ کوم درز ولویږی . پخپلو پښو دقبر لحد ته روانیږی ، مګر له خپلې خودپسندی څخه لاس نه آخلی . او تل غواړی چه دخپل ښائست او جمال په پنګه سره ، ګرد جهان و پیری او ګرد خلق خپل ځانته مسخر او تابعدار و ګرزوی.

هو ! د ښځو په‌لاس کښ پرته له‌غرور ، او تکبر او خودپسندی څخه بله‌کومه مؤثره وسله‌نشته‌ده‌او څوک به‌وی چه‌د ښځو د غرور ه د آسمان په مقابل کښ په خاورو باندی ناست نه وی او د ښځو د تکبر او مغروری په‌مقابل کښ به‌تواضع او عاجزی نه کوی ؟ . . .

ketabton.com - The Digital Library

(حبیبه) سره له‌دی چه‌د (حمید) دمینی په‌سکر وتو باندی تلیده، مگر په‌دی خبره باندی به‌ډیره زیاته خوشحالیده، او خورا زیات حظ،اونشاط ورته پیښیده چه (حمید) هم‌ددی دعشق‌په‌لمبوکښ گریده، اوهرځلی به‌ئی چه‌لیده چه (حمید) خوار ددی دمینی په‌اور کښ سوزی، اوددی په عشق‌کښ بالکل .ناقرار دی ډیره به خوښیده،اوخپل ځان‌به‌خورا لوی، اوډیر‌ښکلی‌ورته‌ښکاریده اوقصد به‌ئی کاوه چه پخپلی استغناء، اوبی پروا ئی کښ‌باید چه‌کلکه،اوتینگه وی. ترخو چه (حمید) دخپل دعشق، اودمینی اقرار یااظهار، اوعرض‌ددی دجمال، اوښائست په در بار کښ وکړی، اودائی په‌خورا ناز،اونیاز، اولوینی ،اوتکبر، اوغرور سره‌واوری.

نوآیا ولی (حمید) دا خپل عرض دی‌ته نه کاوه؟... ددی خبری‌علت مویخوا لدی‌ځنی خو ځلی لیکلی دی !.

په‌همدی صورت سره غوتی دوی میاشتی تیری شوی مگر دایته مینه ښکاره نشوه.

هو! ترهغه پوری چه(حبیبه) د(حمید) له‌مینی ځنی خبره نه‌وه پهره‌وسیله اوبهانه سره چه‌و هغه ئی دځان په‌لوری متوجه کړو، اوهر کله‌چه‌یوه شوه چه (حمید)هم د(حبیبه) دعشق‌په‌اورکښ سوزی ، نواوس ورځنی لری گرزی، او غواړی چه‌دی ورپسی وځغلی، او ورپسی وگرزی. آیا په‌دی وسیله سره امکان لری چه (حمید) په(حبیبه) پسی‌منډی ووهی؟ آیادی‌زغردکولی‌شی چه‌دخپل دزړه درد(حبیبه) ته‌څرگند کړی ؟... داخبره به وروسته لدی ځنی ښکاره‌شی.

ketabton.com - The Digital Library

خو رلسم تو. ک

امتحانونه ختمیدو ته نژدی شول . (مجید) انظار لراو حه زرترزره امتحانونه پای ته ورسیزی . ولی چه دده دورور (حمید) دتحصیلاتو دوره یه دی امتحان کښ تمامیده، اوهغه دطی شهادتنامی یه اخیستلو سره کامیابیده .

(مجید) یخپل زړه کښ د (حمید) د سعادت، او بنه والی لپاره خورا اوګی اونی نقشی جوړولی ، اوویل به ګی چه اوس به څو ورځی وروسته دده و ورلکه چه تراوسه پوری نه خیلو تعلیماتو کښ اول لمبر خوت په دی امتحان کښ به بیاهم اول لمبرشی ، او د داکټری عالی الاعلی شهادتنامه به واخلی اویوه لویه دواخانه به روغوی،اویه هغی شفاخانی کښ به درنځورانو اودحاجتمندانو علاجونه شروع کاندی ، اودهغی دحق المعالجی څخی به دمره گټه ترلاسه کوی چه زه به یه لږ موده کښ نه یوالحی دخپل اودهغه دکوردضرورياتو نواقص پوره کړی شم، بلکه د (حمید) دواړه اود کور سررشته به همیه یواصولی ډول سره وکولی شم .

(مجید) ته ددی خبری لهتصورڅخه زیاته خوشحالی او نشاط پیښیده ، او یه وار وار شکرونه به ګی ایستل چه خدایه ! زه دستاددی مهربانی اواالطاف څخی ډیر خوشحال او شکرګذاریم چه زما هغه بدحال اوبده ورځ دی یه دانیه ساعت باندی بدله کړله ، اوداسی باوفا ! وتابعداره اوښاګسته ښځه دی راته بخښلی ده ، او داسی قابل اوهوښیار،اوباوفا، اوتابعدار ووردی راته مرحمت کړی دی ، اویه سر دهغه ماته دهم لوی عزت ، اومنصب او رتبه ، او معاش کرامت کړیدی ، اودمره مهربانی، اولطف دی راباندی کړیدی چه اوس زه هرشی څخی بیغمه یم ، او د کور ، اودبهرګردکارونه می یه زړه پوری دی .

د امتحان شپی ، او ورځی یه هدی ډول سره پای ته ورسیدی ، او (مجید) به تل دخپل وروړد را تلو نکی سعادت په فکر ،اوچرت کښ و څو ځلی د سرا یو ، اودکوتو ایدلو

ketabton.com - The Digital Library

لیاره ولاړ تر څو چه یوه ښه ماڼۍ د (حمید) د شفا خانې لیاره غوره کړی چه (حمید) وروسته له اخیستلو د خپلې شپې د تنا مې لخنې هلته کار وکړی .

همدا وچه پس له دیرې پلټنې څخه ګې دښار په مرکز کښې یوه اعلی ، اوښاګسته ماڼۍ په دیر و پیسو باندې د خپل ډاکټر ورور (حمید) د مصب یا شفا خانې لیاره په کرا سره وا خیسته ، او د هغې ګرد ابتدائي مقدمات ئې د (حمید) په اتفاق سره برابر کړلو ، او تل به (حمید) سره ددې نوې شفا خانې درا تلونکې رونق ، او روا ج په نسبت خبرې ، او اتري کولې.

او س نو ددې نوې شفا خانې ګرد لوا زمه ، او ضروریات ، او ذخائر سره تول شوی دی ، او فقط د همدې خبرې انتظار باسي چه د (حمید) شپې دتنا مه وروسته له لاس لیك څخه ده ته ورسیږي ، او خپل ځان د ښار دنورو ډاکټرانو په جرګه کښې داخل کړي ، او په علاج کولو ، او دوا ورکولو باندې پیل وکړي .

دا یو ارمان ، او آرزو وه چه (مجید) خوار به تل کولو . معلوم نه وه چه آیا (مجید) په خپلې دې آرزو باندې کامیابیږي؟ او که نه؟ وروسته به ښکاریږي چه څه پیښیږي.

دسنبر کال سالانه امتحانات نتیجې نه یوا ځې د معارف دوزارت په مجله کښې بلکه په ګردوروزنامو کښې نشر ، او خپرې شولې ، او سم له معمول سره دکامیابوطالبانو هویت ، او معرفي سره د عکسو دهغو چاپ شول . مګر (مجید) د اخبارودودې برخې دلوستلو په باره کښې ځانته تکلیف ورنکړو ، ولې چه یو هیڅه چه ورورې به ئې تل اول لمبر و اوس که دیر ناکامه هم پاتې وی نو هرومرو به ئې دوهم ، اودریم لمبر خو وړی وی .

په دې پورې ځو کښې دا خبره دتعجب اودحیرانتیا ځای وه چه (حمید) اوس هم لکه پخوانی ورځو غوندې تل خپه اوپریشان ګرزی ، به په کورا و نه بهر چاسره اختلاط اوخبرې کوی ، تل دهغه له ستر ګو څخې اوښکې بهیږی ، او ستر ګې ئې تکې سرې بریښی ، هره ګړی اوهر ساعت ساړه اوسیلی باسی ، اود خپلې خونې په کنج کښې په یوه ژور فکر کښې هیڅه پروت وی. که کوم ځلې له

ketabton.com - The Digital Library

کوره بهرته هم لحی نوله خپلو ملګرو اومکتبی رفیقانو سره هیڅ نه ګرزی چه نن اوصبا به دی اوهغوی ددی ښارله لویو ډاکترانو لخنی حسابیزی .

نو هر کله چه امتحان پای ته رسیدلی و. نو اوس د (حمید) دخپګان علت څه شی و ؟.. اوددهدا یو الحی توب اوپریشانی څه سبب لری ؟...

داسوالونه به تل (مجید) له خپل ځان څخه کول، تردی چه دده په فکر کښ داخبره تینګه شوله چه د (حمید) داوسنی خپګان علت به هم داوی چه په دی وروستنی امتحان کښ ،دی عالی الاعلی یااول لمبر ډاکتر نه دی وتلی او دخپلو نورو ګډا میابو ملګرو لخنی شرمیزی چه ولی له هغوی څخه داځلی چې له پخوالخنی چه تل به اول لمبر اوعالی الاعلی خوت ،دو هم یاپنځم لمبر وتلی دی.

له همدی جهته (مجید) دروز ناموکتلوته متوجه شوچه وګوری چه (حمید) څوو لمبر په امتحان کښ ختلی دی؟چه دوسره خبه اودلګیر ښکاری .

مګر هغه اخبارونه چه دامتحان نتیجی په کښ ښکلی وی دده په لاس (ددی لپاره چه دهغوی د نشر لخنی څو ورځی وتلی وی) نه ورته.نو ناچاره شوی دیواخباراداری ته لاړ اودهغه دکلکسیون شعبی ته ورننوتلی داخبارو مجموعه ګی په خپل مخ کښ کیښود له اودامتحان له شروع څخه ګی تر پایه پوری ګرد اخبارونه په ډیر دقت سره له خپل نظره تیر کړل تردی چه خپل مقصود ګی بیامونده اوپه لوستلوګی پیل وکړ لو .

اول نوم ګی وکتلو او دوهم او دریم او څلورم او پنځم ګی په ډیر دقت سره ولوستلو . اوخورا زیات متعجب او حیران شو چه د (حمید) نوم ګی ونه لید ، تر دی چه لسم نوم ګی هم وکتلواو خورا زیات پریشان شوچه دده دوورو نوم هیڅ په کښ نه بریښیده.

نوګی بیاله سره هغه نامنویسن ولوست ، بیائی هیڅ شی نه موندلو . . در یم ځلی ګی په خورا دقت او اهتمام سره ګرد نومونه سره د دوی د پلرونو نومونه او مسکنونه او پیژندنه ولوستلو . مګر بیا ګی هم کومه مثبته نتیجه ورلخنی وانه خیسته .

ketabton.com - The Digital Library

(مجید) زړه سمد لاسه په غږ ځنګ باندې پل وکړلو ، او زیاته پریشانې او اضطراب ور ته پیښ شو ، او ځکه او آسمان وربانډې ګرد وخرخیدل ، اورنا ورځ و ربانډې تیه تیاره شو له او هیڅ نه پوهیده چه اوس څه و کړي .

نو له شیبه ګی مدار وکولو او بیائی فکر ټول کړی دکامیاب طالبانو دنومو نو په لوستلوګی بیا شروع وکوله .

نومونه ګی یو یو له خپل نظره تیر کړل ، او دهر نامه له لوستلوڅخې وروسته به ګی څوټا نیې مدار کولو او چرت به ګی واهه نه چه لیکونکی یا نقل کوونکی یا دچاپخانې مرتب یا روزنامې مصحح په نومونوکښې څه تصرف یا غلطی کړې وی .

مګر سره له دی رازی دقت او تفکر کولو بیاهم پخپل اصلی مقصد باندې و نه ر سید . او داخبار په دی مخ کښې چه دفارغ التحصیل طالبانو نومونه لیکلی شوی وونه ګی د (حمید) ار نه ګی د (حمید) په وزن او قافیې سره برابر کوم بل نوم مینده کړو چه ووائی چه دا نوم د هغه په ځای سهوا یاداشتباها لیکلی شوی دی .

بیائی دهغې روزنامې بورې صفحې او نورې شمیرې څه ډاډلی مګر په هیڅ ځای کښې ګی نه د تصحیح په پوښتنه او نه د تعدیل په عنوان سره د خپل وروره نسبت کومه سپارښته یا کومه کرښه ولیده .

نوګی خپله کونه پخپلې خولې کښې ترغاښې لاندې ټیرلی خپل ځان سره ګی ویل چه داشه - قصه او داخه توقه شوه . »

د روزنامې له اداری څخه لکه یونشه ګی سړی چه مخکه او آسمان وربانډې حرخیدل اود تللو په وخت کښې به ګی کنګس خوړلو وروت ، او برابر دطبی فاکولتی په لوری راهی شو .

په دی ورځ کښې هلته هیڅوک نه و ، ولی چه د کلنی امتحانو د ختمیدو په نسبت په فاکولته کښې تعطیل اوګرد طالبان او استاذان اومستخدمین رخصت وو . یوا ځی یو تن پیاده د نوکری والا په ډول هلته په پیره باندې ولاړو .

(مجید) دفاکولتی په صحن کښې دریدلی هغه پیاده سړه په حیرو شواود (حمید) د حال اواحوال پوښتنه ګی ورڅخې وکوله . مګر هغه پیاده خوار له دی فضولڅخې هیڅ خبر نه و ، بلکه له سره ګی له (حمید) سره څه پیژندګلوی هم نه درلوده .

ketabton.com - The Digital Library

وروسته له‌دی ځنی چه (مجید) د (حمید) نبی او علامی ده ته وړنکاره کړی د قدا و قامت او کالبوا و د تګ صفت ئی ورته وکړلو ، نو پیاده و خندل او وئی ویل چه : بس بس وهی پیژند و ته هغه هلکی شئی چه له دیوی میاشتی را ئیسی مکتب ته نه راځی ، او نور هلکان وائی چه هغه باد سار ه شویدی » .

د پیاده دی لنډی ګنډی ، او ساده خبری په (مجید) باندی یو سخت اثر وا چاوه چه لکه مار له خپل ځان څخه تاوشوی ، او داسی بنکاریده چه په هغه باندی یو سخت تندر لویدلی وی (مجید) له خپل واك ځنی وتلی سمدلاسه ئی په هغه پیاده باندی یرغل وکړلو ، اوغو ښته ئی چه له ستونی څخه ئی نیولی ځای په ځای ئی خپه کړی ، او ساه ئی وباسی . مګر هغه خوار پیاده (چه هیڅ ګناه ئی نه وه ، او فقط یوه هغه رښتیا خبره ئی کړی وه ، حه‌تل به ئی له طالبانو ځنی او ریدله) زړه‌تینبته شوی ، او په کومه سوړه کښ ننوتلی و ړځنی پټ شو .

دی کمبخت پیاده پرته لدی څخه چه رښتیا ئی ویلی و بله ئی هیڅ یوه ګناه نه لرله ، او دا رښتیا خبره د (مجید) په دماغ بده ولګیده ، او اوس غواړی چه دخپل د ګناهګار و رور فس له‌دی خوار پیاده څخه اختلی ددی مثل مصداق ځان وګرزوی چه زورئی په غوا نه‌رسی نو کته به ئی وهی » .

که رښتیا وویل شی رښتیا ویل په ډیرو ځایو کښ انسانانو ته نخسان پیښوی د حدیث شریف مضمون دی چه :

(حق او رښتیا ویل خو را ترخه ، او او ریدل ئی په نادانانو باندی ډیر سخت دی مګر پوهان ئی زغملی شی) .

نو لدی جهته مونږ ویلی شوچه دا پیاده ګرم دی ، او بایده دی چه (مجید) ئی له ستونی څخه ونیسی ، او په مخ مخ ئی ووهی چه ولی ئی له‌روغه وونکی دروغو ځنی مخ آړولی « جنګ آچو ونکی رښتیا » ئی ویلی دی ، او حال دادی چه نه یوالجی د شرق لوی مصلح او نابغه حضرت مولانا مصلح الدین شیخ « سعدی » بلکه ګردو پوهانو ویلی دی :

ketabton.com - The Digital Library

(له جنګ آ چوونکی رښتیا ځنی، روغه ووونکی او جوړه راوستونکی د زمغ په ځینو ځایو کښ ښه دی).

مګر په حقیقت سره دا پیاده باید ملامت، او ګرم ونه باله شی .

ولی چه دی کوم وزیر یا رئیس یا د حضور صاحب نه وچه داسی فلسفو باندی پوه وی، بلکه دی یو خوار، او ناجز، او ناپوه، او عادی، او معمولی سړی وچه په اخلاقی مصالحو، او مفاسدو باندی چندانی نه پوهیده، او د عوام الناسو په ډول به ئی تورتی او صافی خبری کولی، او یخیلی دی وینا سره ئی چه د (مجید) ډډیرا صرار، او تفحص څخه ئی وروسته وکوله، بل ئی هیڅ یوه مدعا او مطلب نه درلوده، بغیر له دی څخه چه په واقعی حال احوال باندی (مجید) وپوهوی . ولی چه هغه خوا ر د (حمید) په نسبت همد ومره پوهیده چه له یوی میاشی رائیسی ئی په مکتب کښ نه ولیدلی، او د هغه ملګریو به ویل چه « (حمید) خوار بادساره شوی دی »

مګر (مجید) د دی واقعی، او حقیقی خبری په اوریدلو سره دومره زیات په قهر شویدی چه که په دی پیاده باندی ئی لاس برشی نو ګیډه به ئی وشلوی. ولی ډډیر شکر ځای دی چه په هغه وخت هغه پیاده ورځنی وتښتیده، او ځان ئی تری تم کړلو .

(مجید) وروسته له دی څخه چه پیاده ئی بیا نه مونده، په ډیر قهر، او غصه سره له مکتبه بهر ته ووو ت، مخکه او آسمان وربانده له خیګا نه ګرزیدل، او دنیا نه یوالحی وربانده تنګه بلکه ته تیاره هم شوی وه .

د مکتب په دروازه کښ ئی لږ څه ډیل، او معطلی وکوله، او چرت به ئی واهه چه زه به خدای وهلی (حمید) چیری پیدا کړم چه دده د مکتب د نه ورتګ علت ورځنی وپوښتم چه دی ولی له یوی میاشتی رائیسی مکتب ته نه دی تللی؟ او په دی مهم، او عالی امتحان کښ چه دده، او ز مایه حق کښ د محاك تیزه یادګیرۍ نسخه وه ولی نه دی شامله شوی؟

وروسته له هغه بلا اراده روان شو، او څو ساعته لا لهانده . او ګرهانده ، او پریشانه په کوخو ، او بازارو کښ پاګلا نو او لیونیا نو غوندی ګرزیده ، او په دی فکر کښ به وچه

ketabton.com - The Digital Library

(حمید) پیدا ، او بیا به داسی داسی پښتنی ور لخنی کو ه .

له دی گر ز ید و لخنی ګی پرته له ستو ما ی څخه بله کو مه نتیجه په لا س ورنه غله، او په پای کښ ستړی ستو مانه کور ته و لا ړ .

په کور کښ یوالحي (حبیبه) دمابنا م په پخلی بخته وه ، او د (حمید) هم هلته څه پته او نښه نه ښکار یده (مجید) د (حمید) د کور دلتو لو څخه وروسته یې له کو می معطلی، او د یل لخنی سمد لا سه له انګړ ه دده دیادلتو لو په قصد بهر ته ووت ، او په ز ړ ه کښ ګی دا خبره تنګه کړه چه هر و مرو باید زه (حمید) پیدا کړ م ، او دا خبره د ور سره سینه کړ ه .

اوس نو ښائی چه مو نږهم له (مجید) خوار سره مر سته و نړ و، او د (حمید) لږ څه پته او نښه (که ممکنه وی) ور ته پیدا کړو چه دی خدای وهلی اور سول شرموی چیرته تلی دی ؟ او په کو م کار کښ بخت دی ؟ چه هیڅ پته ګی نه ښکاری ! . . .

(حمید) یه هدی ورځ صبا ګی ګهڅ له خپلی خو ښی څخه وتلی دی ، او معلو مه نه دی چیر ته تلی دی ؟ او څه کوی ؟ او په کوم چرت کښ یه کومه ځای کښ نه وب تلی دی : ...

د (مجید) او س لږ څه فکر یه لخنی شوی دی ، مګر خو ر ا ر سا ن ، او ستو مان د ی او ورو ورو په کوخو، او بازارو کښ پاڼته کوی ، او چپ له پخواخځه چه چوپ او چرتی یه تلو ، او س له هر چا څخه د (حمید) پښتنی کوی ، او دده یه دوستانو ، او رفیقانو پسی ګرزی ګډ له هغوی لخنی دده د استو ګنی ځای لخا ته معلو مه کړی شی ،

(مجید) چه هر چاڅخه د (حمید) پوښتنه کوله ، هغه به خپلی دی خبری اظهار کو او ، دده د کلاس دوه دری تنه ملګرو سره ټی هم چه ملا قات و کړو هغوی له (حمید) دی خبری ویښا کړی وٹی و یلوچه :

دوښ له بوی مباستی راتیسی د (حمید) په پته ماندی خبر نه یوچه چیری دی ؟

لکن لخنی ملګرو یائی چه هغه لا لیاندی او کړ هانده او پر یشانه ، دی خوا او هغه خوا ګردی او چاسره هیڅ خبری او اتری هم نه کوی او د اسی بر بښی لکه چه چر س ګی څکولی وی یائی شراب خورلی وی یائی په چاباندی زړه بایلودی وی یا . . . »

یوتن بل مکتبی طالب العلم وویل :

ketabton.com - The Digital Library

« مونږ له یوی میاشتې پاخلو پښتوشپورالیې (حمید) سره هیڅ نه دی لیدلی سږ کال هغه په کلنی امتحان کښې هم حاضر نه شو ، او که دی یې د امتحان کښې شریك شوی وی دهغه تعلیمات چه لږ اوعالی و ، او فکر اوعقل ئی هم هسك و ، هر و مرو به دعالی الاعلی شهادتنامې په اخستلو سره کامیاب شوی و . »

مګر داچه هغه له امتحان څخه مخ آړولی دی. نو که لیونی شوی هم نه وی ، مونږ او تاسو باید په هغه باندې لیونی حکم وکړو. ولی چه دده داحرکت هغه چاته پاتې کیږی چه غمې وکړی، او په میاشتې خدمت ئی وکړی، اووئی ریبی او درمندئی کړی او بیا په یو نیلی باندې اوروړته کړی.

پنځه لسم ټوك

(حمید) داسی فصد اویت کړی وچه خپل ځان مې لیدی اوانتظار وکړی او خپل زړه دداسی سختی پښې څخې (چه یوخوا ددنیا اودآخرت رسوالی او بدنصان ، اوله بلی خوا دعشق اودمحبت غلبه ، او فوران دی) خلاص کاندی .

ندی معلوم چه دابد فکر له کړه وخته د (حمید) په ذهن وکښې اویدلی دی ؟ .

یخوا اډیره هیڅکله داسی حیې فکر وه دده یا زړه کښې نه راته .

فقط هغه داوخ کښې چه اوکوږه وه وبه ناخاپه دابد فکر اوحتی خیال دده په سر کښې ځای ونیو او. هره ګړی او هر ساعت داملعون اوشوم تصور دده په زړه کښې تیګیده او عزم اوتصمیم ئی دخپل ځان دوژلو لپاره کلیګیده ا . . .

هو ! څنګه بی تعلیم اوبی تربیه څومره ډیر ځان وژلو فکر، اودانتحارګناه کلیه وسو سه

ketabton.com - The Digital Library

ناشایسته پیښی او هغوی کمپختان په ځای ددی چه دهغه خراب عواقب او بدی نتیجی ته فکر وکړی او ویوهیږی په داسی بوشوه اقدام سره هم دهغوی دنیا او هم دی عقبی خرابیږی، پرانده شوی هغه ته اقدام کوی .

د ځان وژل او دانتحار سبب تل د نفس ضعف، او غلط تعلیمات، او ناقصه عقیده، او لوستل د فساد پښو نکو او خرابو قصو، او چتې تلقینانو، او فکر و وی .

چه داټول سره گډشوی دژوندون دخوښولوغړیزه (چه په هریو ذی روح کښ شته) ضعیفه گرزوی . او وروسته لدی څخه بی تعلیم اوبی تربیی اوسست عقیده کسانو ته داسی یوجنون اولیو تو ب پیدا کیږی چه دهغه په اثر هغوی خپل ځانونه وژنی .

(حمید) هم داسی یو ابونتوب او جنون کښ پر یوتلی و . هغه دعشق دزخمتو او د مینی دتکلیفو په مقابل کښ ځان نه شو سپمولی . او زیات له دی څخه گی توان نه وچه دعشق په لمبو کښ وسوزی ، او دمینی په سکروتو باندی وگریږی .

له بل اوری متیقن وچه د (حبیبه) په وصال باندی نظرو هغو موانع او محذورا تو ته چه مونږ خوځلی اشاره گړی ده ، هم بری نشی موندلی . بلکه هغه پخپله په خوښولهچه داعاشقی تر دی حده پوری ورسیږی چه د انسانیت او سلامیت له حدو د ده بهر سی .او د ی خپل ځان دخپل ورور په مخ کښ او خالق او مخلوق نه مفتضح او رسوا او شرمیدلی وویني .

بر سیره پر دی دافکر گی هم په دماغ کښ ولوید و چه دی په امتحان کښ هم شامل شوی

ketabton.com - The Digital Library

نه دی او دیر ممکن دی چه له دی لوری هم دخپل ورور په مخ کښ گرم او سئول وگرزی .

دا گرد فکرونه او مشکلات دده په مخ کښ ودریدل او په سر دهغه دی فکر زیات تکلیف ورته پیښ کړو چه نن یا صبا به زما محبوبه (حبیبه) خبر یږی چه زه په امتحان کښ شـ مله شوی نه یم او دهغی معشوقی په مخ کښ به زما مشرورور مانه زیاری او کنځلی کوی او تنده او تږه و شه به راته وائی .

دی به خپل ورورته څه ځواب ووائی ؟ . . . .

دی وروسته له دی څخه چه په امتحان کښ ناکامه پاتی دی . او دیواوی دا کښتر به ځای کښ خوشی یو سودړ پاتی دی څرنگه به پیغلی (حبیبه) سره مخامخ کیدی شی ؟ . . .

دی همهغسی چه دعاشقی په درس کښ ناکامه او نیم گړی پاتی دی دطبی امتحان څنی هم بی برخی شویدی ، دا نه ده چه وهری ، او وروسته لدینه ژوندون ونگړی ! . . .

دارازی فکرونو چه مونږ لږ څه اشاره ورته وکوله د(حمید)په ماغزو کښ نن ځای نیولی و اودده زړه به ګی پخـاوه اواه ژوندون څخه ګی مړاو زړه ګی ور ځنی تور گړی و ، او تینګ قصد ئی گړی وچه هرو مرو باید خپل ځان مړ کا ندی . . . مگر نه پوهیده چه په کومه وسیله سره دی عمل ته اقدام وگړی ؟ .

دا خبره دتأمل گولواوسنجولو وړوه ، نوبحکه هغه ددی خبری په اطراف اوشاؤ خوا کښ فکر گولو .

آخرته دا غوته هم خلاصه اودامشکل هم (حمید) ته حل شو.ولی چه هغه به هره ورځ په اخبارو کښ راز راز انتحارونه اودخپل ځان دوژلو احوال لوستلو ، اوپه عین زمان کښ ګی په طبابت اودا کښری کښ هم تر دی اندازی پوری مهارت درلود، چه هرځوک ووژلی شی او داسی زهریات په فکر کښ ور غلل ، چه دهغو دیوی ښځی له خولو او ، یادیوه ځاځکی له څکلو څخه ، چټ پټ سړی مړی .

دلته ګی چه نیت اوتصمیم دخپل ځان دوژلو دپاره تینګ اووسیلی اوصورت ګی هم دنه په فکر کښ ځای ونیولو ، نوزرګی خپله کتابچه اوقلم له خپل جیب څخه وویستل او داد خپل زړه خوږه وونکی قصه ګی په یودر دنا که صورت سره د(حمید) د انتحار علت تر عنوان لاندی ولیکلو .

ketabton.com - The Digital Library

وروسته دلیکلو ددی داستان څخه سمد لاسه دیو دوا فروشی دکان ته تللی دیوی ساحنگی نسخی په وسله سره ئی وروسته له ورکولو دخوپسو لخنی یوخطرناك زهرو پیرودل اوتاره مابنامیه ډیرید وضعیت اوبداحوال (چه هرخوك دهغه اید اولخنی دده پهدی بد مقصد اوبت باندی له ورا څخه پوهیده) انګیرکښی ننو تلو.

(حبیبه) چه لږ څه دخپل میړه له وضعیته پوه شوی وه چه (حمید) لتوی او ورته په قهرډی نواله ډیره وخته رائیسی پخپل محبوب او معشوق او مین (حمید) پسی پخسده اداوشکی ئی له ستر گونخی توئیدی اوددد په انتظار کښی د پره ځمجنه ناسته وه.

محداچه د(حبیبه) نظرد(حمید) پهقد اوقامت باندی واویده، دسم وربانډی رناوزړاکی پوخندا بدله شوه ،نکر سمد لاسه داخوشحالی ئی بنایه خپګان باندی بدله شوه

ځکه چه دی دخپوب اومینې (حمید) رنګ ډن شپه ډیرانو بانډی وړه بنکاره شو اوزنی لږ حداحمد) دډیر دقت اودحیرانون لاسه دنګه زنګه لږی دا بالکل یهموتی او پخوند ګښی دی، اوږه نظر کښی داسی برېښی لکه چه ما ئی خپلی وی، یاډیری دوری وربانډی توئی شوی وی.

بوهر کله چه دعاشق اودمعشوق یهمنځ کښی داسی یوقوی اوکلکه رابطه تل موجوده وی چه یودبل یهدرد اوخوږوباندی لهورا پوهیږی اویودبل یهغم اواندیښنه کښی هرومرو شریك وی (حبیبه) همداله خو ورځو لخنی پهدی خوا(حمید) غوندی ځمجنه وه اومخصوصا بیانن لهصبا رائیسی لږمون خوږینه اوخورا غمګینه ناسته وه، اولهمازیښین لخنی رائیسی بالکل مخکه اوآسمان وربانډی څرحیدل اوګډی اوساعت د(حمید) ښائسته بنکلی مخ، اوتا وګډی بیر تو نه، او صفا چته ږ پره اوښکلی غټی توری ستر ګی، اونکی توری غوږی لخنی، اوسم قد اوخوږی خبری، اومتنا سب جرګات، اوعالی صفات، اوښه اخلاق، اوزیات بشرم او حیا، اودیره ښکلی مسلمانی اویرهیز ګاری اولوړ اوصف ددی پهخرابه ورګی ګنبی ګرېدل، اودستر ګو رپولو پهډیر پهغم د(حمید) خپره ددی نه سترګو حجه نه وتله، اواوس د(حمید) ددی خراب اوابتر و صحبت دلید او حجه بالکل هکه پکه پاتی، اوخته حیرانه شوی پریشانی اوسودا ئی لهحده زیاته شوه او د(حمید) ګردو حرکاتو اوسکناتو ته چهداو نابو پهشانی بهئی کول خورا زیاته دقیقه لږه اودستر ګی د بورت پهاندازه بهئی هم هغه لهخپلو سترګو لخنی نهغورزاوه.

داول ماسخنن وخت دی، او(حمید) په خپلی خونه کښی د څراغ په مخ کښی ناست

ketabton.com - The Digital Library

په یوژور چرت کښې دوب تللی دی . (حبیبه) دهغی کړکی ځنی بهرچه دده ترخوا پرانیتلی وه په تیاره کښې دده په پهره باندی ولاړه وه لکه چه د(حمید) له وضعیته یوه شوی وه چه دی کوم خراب فکر پخپل زړه کښې لری ، اوښائی چه زه ځان پری خبره کړمه .

(حمید) له هغی خپلی صراحی ځنی چه دده په میز باندی ایښی وه په گلاس کښې او به وا چولی او ور و سته له هغه دور په لوړی ځیرشو چه څوك خوبه ده ته نه گوری .

هر کله ئی چه اطمینان پیدا شو چه هیڅوك ده ته نه گوری ، اودهیڅا ده ته پام نه دی. نو یوه پوړی سپین سفوف ئی له خپل جیبه وویستلو ، او زرئی په گلاس کښې تش کړلو . بیائی خپله کتا بچه له جیبه وویستله ، او څونوری کرښې ئی وړباندی و لیکلی ، او هغه ئی پرانیتلی دخراغ ترخوائی په میز باندی کښیښود له بیائی نور کاغذ ونه هم له خپل جیبه و و یستلو ځینی ئی بیرته په جیب ، اوځینی ئی خیری کړل . بیائی له ناامیدی ځنی د که یوه کتنه خپلو کتابو ، ا و ا سبابو ، او خو نی ته وکوله، اوبیائی دریشم له [illegible]

له خپل ځان سره وویل چه راته له ورایو آخری دیدن له (حبیبه) [illegible]

او اوبو سره وکړه وروړ خومی په کو رکښې نشته چه دهغه لا سو نه می هم مچی کړی وی نو وروسته له هغه څخه دا دمرگی کنډول په سرنسکور کړه ، اوځان له د ی ډك دو سوسی حهان څخه آرام کړه .

(حمید) د خورانا امید ی ، اومأیوسی په وضعیت له خپله کوره بهر له ووت، اوغوښته ئی چه اول له آسمان ، او سپو ز می ، او ستو ر یو ، اود با غچی له گلا نو ، اود حو ض له او بو سره خدای پامانی ، اوود اع وکوی ، او په آ خر ه کښې به له ور ا (حبیبه) و یښی وروسته له هغه به دز هر و پیا له په سر آ ډ وی .

(حمید) دانگړ په با غچه کښې دحو ض تر خوا ولاړ سپو زمی، اوستوز یوته ئی په یو عجیب حسرت ، او نا امید ی سره کتل ، اوددنیا نری وز می به ئی پخپلو سو گمو کشکو لی اودژوندون خوند، او مزی ته به ئی فکر کاوه ، اودمرگ سخت ساعت، اوتکلیف ځنی ویریده .

کله به ئی ویل چه څه له دی فکر څخه تیرشه ! ا ودژوندون نعمت غنیمت وبوله ! . . .

بیا به ئی چه د عشق تکلیف ، او رسوائی ته کتل ، اود امتحان ناکامی ، اوملا متی به ئی چه لیدله نو بغیر له دی څخه چه خاوره ئی پر ده شی بل ئی هیڅ یوه چاره نه ترستر گو کیده له

ketabton.com - The Digital Library

په‌دی تر دد ، او تد بدب کښ (حمید) بنا ګسته خو د قیقی ډ و ب تللی و ، ا و هیڅ ګی و نه لیدہ چه (حبیبه) له ورا دهغه له هغو ګردو حرکا تو لخنی چه په کو ر کښ ګی کو ل خبر ه شو یدہ ، او په مجرد دبهر و تلو دده څخه له کو ر ه هغه سمد لا سه په کورکښ بیو تلی ، او « د (حمید) د ا انتحار علت » ګی او ستلی ، او د زهر کنډ و ل ګی لیدلی او هغه ګی په سر آ ډ و لی دی !!! ...

نا خا په ګی د (حبیبه) کړ یکه تر غوږ ه شوه چه و ا ئی :

ه ... زه د جا ر شم حمیده ! ز ه هم د ستا سو په درد کښ آ خته یم . دادی چه د ستا سو د ډ اکټری دا اوله نسخه زه ډ ومبی استعما لو م . هله زر شه راشه ز ما د ستر ګو تو ره دا کټر ه ، چه د ستا سو دیاك عشق دامر یضه د ستا سو د نسخی په استعما لو لو کښ څه غلطی و نکړی !!! ... »

ه مجرد دا ورید و ددی غږ (حمید) و پوهیدلو چه (حبیبه) دده خو ی ته ننو تلی د ه .. یدہ ، اواوس ده باندی مسخرګی کوی او خاندی ...

ی حوښی په اوری رهی شو .

په مجرد دننوتلو په کورکښ له یوی هولنډ کی منظری سره مخامخ شو .

یعنی و ګی لیده چه (حبیبه) لخنکدن لری ، اولکه مار غوندی دی خوا ، او هغه خوا تاویږی ، او غږی ، اونړدی ده چه سا ه ګی ووزی .

(حمید) په ډیره چالاکی سره دخپل دمحبوبی (حبیبه) سر له مخکی څخه پو ر ته کړی په غیږ کښ ګی ونیولو ، او په نارو ، او سو رو باندی سرشو ، او چیغی به ګی وهلی . مګر (حبیبه) باندی تیره شوی وه ، اوکار له کاره وتلی و ...

(حمید) چه دا درد ناکه وضعیت ولید نو فی الحال ګی هغه پاتی شوی زهر چه کنډ ول پر ی کړی پاتی و ، په سر باندی آ ډ ولی تر آ خر یمی خاخکی پوری ګی وڅکلو اود (حبیبه) تر څنګه دزهر وله تاثیره و څرخید .

په عین همدی وخت کښ چه د (حبیبه) ساه ددی په کوګل کښ خرها رلری ، او (حمید) لکه مارغوندی پخپل ځان باندی تاؤنه خوری فشهار کوی ، بد بخت (مجید) هم ستړی ستو نه کو ر ته ورننووت ، او دخورا زیات خرهارا وفشهار په اثر چه (حمید) له کورڅخه ګی واور یدو ګر ګبلی همغی خوا ته رهی شو .

ketabton.com - The Digital Library

نا خایه (مجید) کمبخت په داسی یوه بده منظره باندی وروا اوښت چه هر سړی به دهغی له لیدو او ځنی خورا زیاته تراخوړله، اوډیر زیات به ئی ژړل، او هلك پك به یاتی کیدو !

یعنی یمخی او گلالی بنځه ئی (حبیبه) یوخوا کښه وزه پرته اوژ به ئی له کاره اویدلی!! او دمرگی وروستنی سلگی وهی !! .. اومری !!! ... اوښاگله اوښکلی وروړلی (حمید) په بله خوا یه سر باندی چرلیزی اوځان کندن لری! .اولاس اوپښی آچوی !! .. اوستر گی ئی تکی سپینی اوښتی دی !!! ...

هرخو مره چه کور وړانی او کمبخت (مجید) بی اختیاره چیغی وکولی اوبی وا که ناری او سوری ئی وهلی اوحبیبه!.حبیبه !!.. حبیبه !!! ..ئی ویلی اووار خطاوار خطائی خوځوله.اولهځا یه ئی پورته کوله هیڅ فائده ئی ونه کوله !!!...

حبیبه نامراده له لاسه وتلی، اوبل عالم ته رسیدلی وه !!!...

بیائی په چیغو باندی پیل کړی له ژړا خنی پوری راوری پك ستونی سره حمید! .حمید!!.. حمید!!!...ئی ویل.

(حمید) په خورا زحمت اوتکلیف سره دده په لوری ستر گی آړولی، په نبولی اوغوږ، غږ سره ئی «بلی!» وویل :

(مجید) زړتررره په هغه باندی ځان نسکور کړی له خپلو ستر گو څخه ئی غټی غټی اوتو دی تودی اوښکی دهغه په مخ باندی توئی کړی وئی پوښتیدلو :

« زماد زړه سره! تاسو باندی څه توقه شوی ده؟ ... اوزه ولی خپل کور په داسی سخته ویره کښ ککړ گورم ؟ ... »

(حمید) چه دزهر څکلو په واسطه دنیم بیهوشی په حالت کښ لاس اوپښی وهلی خپلی ستر گی ئی پرانیتلی خوځلی ئی پخپل سر سره هغی کتابچی ته چه په میز باندی دځراغ تر څنگ پرانیتلی اینبی وه، اشاره وکوله اووروسته له دی ځنی ئی په خورا زحمت اوډیر تکلیف سره چه خپل گردی پاتی قوا وی نی په ویلو ددی خوتوریو باندی وښندل وئی ویل :

داده دځان ساتنی اود وظیفی اودمینی نتیجه

وروسته له دی څخه ئی په سلگی وهلو باندی پیل کړی !.. له ستر گو ځنی ئی اوښکی بهولی !! .. لاس او پښی ئی آچولی ، وچ کلك ولوید !!!...

د (مجید) ژړا او انگو لا او شور ماشور گرد کور په سر آخیستی اولږ څه وروسته همسایگان او پولیسان په دی کور کښ ورتوئی شول ..

ketabton.com - The Digital Library

خاتمه

دگډوځ په ورنامو کښ داخبره په ګرد بیار اویه دوی دری ورځو کښ په ګرد عالم کښ خپوره شو چه د پرون شپه سهار به هغوی برخه په ټلانی کوڅی او سرای کښ د و ه تنه (حبیبه) ا و (مجید) نامو به سلسله سره انتحار کړیدی نن به دهغوی جنازه دپولیس دماموریت او دطبی داکټر له ... څخه وروسته خښیزی له رسیدلی اطلاع سره برابر ددوی د انتحار سبب به یوه کتابچه کښ ... درد ناکه صورت سره لیکلی شوی دپولیسانو په لاس اویدلی دی چه سر له صبا به دپولیسانو په ځا کښ دیا ورفی په ډول چاپیزی .

څو ورځی وروسته لدی څخه ددی چاپ شوی خبر په تعقیب داخبره هم چاپ او خپره سوه :

« په هغه کور کښ چه په فلانی ورځ دوه انتحار ونه پیښ شوی و ، او هغه زړه خوږ وونکی علت او سبب دپولیسانو په ځا کښ هره ورځ چاپیری یو بل سړی هم استوګنه لرله څه اوس هغه لیونی شویدی او نن دبلدیی له خوا دار المجانین ته وړو سپارله شو »

څو هفتی وروسته به چه څوک دارالمجانین ته ورتلل، نوهلته به ئی خوار (مجید) لیدو چه په پر خپلو دلګیر به یوه کنج کښ ناست دی . او خپل دواړه لاسونه ئی ترځنی لاندی نیولی تاب تاب هره خوا ګوری .

په ظاهره کښ غیر له زور خپګانه بل هیڅ یوه دلیو ننوب نیه دهغه په وجود کښ نه لیدله کیده . فقط کله کله به ئی دا کټرانو ته ویل :

« زما ور ورهم یولوی دا کټر دی اویه فلانی کوڅه کښ ئی ، شفاخانه ده چه زه ئی په میاشتی دوه زره روپی کراور کوم »

له دی څخه زیاتی پوری خبری اواتری له هغه کمبخته لحنی نه اوریدلی کیدی او دنورو لیونیانو په منځ کښ دی تل معصوم او مظلوم او آرام او بې ضرره ژوند تیروه .

« انتهی »

(د مؤلف یادداشت :)

« ددی قصی اساسی موضوع دباندینی مطبوعاتو لحنی اقتباس شویدی »

د کابل ښار د (۱۳۱۷) کال د میاشتی د جدی (۲۱) شپه « کشککی »

د کابل ښار ۱۳۱۷ کال د جدی د میاشتی (۲۱) شپه کشککی
۷۲۲۲۱

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English